سلسله نشریات روزنامه اصلاح

# پت مینه

اثر: «کشکک»

Ketabton.com

۱۳۱۷

مطبعه مومی

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## پېښه مینه

## اول ټوک

یو سړی و چه ( محمود ) نومیده او کسب ئې دکانداری و .

د ( محمود ) دکانداری لحنی به فقط دومره ښې هره ورځ په لاس ورتنه ، چه د خپلې دعیالداری بهٔی په هغه باندی دقوت اولایموت وسیلې برابره ولی او په مشکل سره بهٔی خپل رأس المال په هغه سره ساته اود قرضدارانو اودمعامله دارانو خوله بهٔی بندوله اوله کومه ورځ به په دکان کښې نه کیناستو اوپائی چاله دکانه څه شی نه آخسته . نو دی خوار به د خپل دصبا اوبیگا خرڅ ته حق حیران وه .

دده کورنی عبارت وه له یوی ښځې . او دوه هلکانو څخه چه په نامه یو په ( مجید ) او بل په ( حمید ) سره یادیدلو .

اگر که ددی کورنی گذران دخوراك اودپوښاك له لوری چندانی ښه نه و ، مگر سره له دی هم هرکله چه دوی دخپلې پرستنی په اندازه سره پښې غزولی او هر قسم چه کید ه خپله گذاره به ئې سره کوله ، نوغیر له دی څخه چه دخپلو اوپردیو په نظر کښې دخوار انو په شانی راتلل دوی پخپل کور کښې سره خوشحال اوآرام اودادفقیری کور به دوی ته لکه یو پادشاهی ښکاریده ، چه دهغوی په سر ددوی پلار ( محمود ) حکومت کاوه ، او د دوی په منځ کښې دهغوی مور ( فاطمه ) په کار او انتظام سره بخته وه .

مگر ددنیا پیښې داسې دی چه تل نه دفقیر ، فقیری ؟ او نه دپادشاه ، پادشاهی پاتی کیږ ی او همیشه ددی عالم راحت سره زحمت ، او گل سره اغزی موجود دی ، نوناڅاپه دی فقیری کورنی ته هم یو لزی مصیبت واقع او ددوی گتیالی ( محمود ) وروسته له لږی رنځوری څخه مړ شو او دوی ئې گردنه پوالحی په ویر کښې کیناول ، بلکه له خاوروار ایرو سره ئې برابر کړ او .

ketabton.com - The Digital Library



ده اوی مکتبی زوی (مجید) دخپل دپلار د مړ کیدو په وخت کښې شل کلن و اوپل دروړلی (مجید) د پنځه لسو کلو ځنې زیات عمر نه درلود.

دی خواری کورنی چه خپل کتنوالی ئی له لاسه ایستلی وو، پخپل کور کښې ئی غیر له فقر او مسکنت او د قرضدارانو غوښتنی اوله ددکان له جنس څخه بل شی نه درلودل، چه له هغه ئی اجناسو څخه ئی هم د خپل د مړی گور او کفن، او هم د قرضدارانو څخه تسکین، او هم خپله گذاره په ډیر زول او زول او مشکل سره کوله.

دوی گرد په دی باندی سه پوهیدل که بله کومه اساسی چاره او وسیله د خپل دژوندون لپاره روغه نه کړی، نو هغه وخت به اری نه وی چه دهغوی دا لږ څه جنس چه پاتی دی، او هره ورځ ئی به نیمائی قیمت باندی له لاسه ووزی، او په گیډه باندی خوړل کیږی، او قرضدارانو باندی ویشل کیږی، بالکل به خلاص شی؟ او دوی به په دا کښې او بیابان کښې پاتی شی.

نو له دی جهته (مجید) ناچاره شو چه له مکتبه ووزی او ځان په کوم یو کار او غریبی کښې واچوی ترڅو چه دهغی له کتی ځنی دخپلی مور او وروراودکورستانه وکوی.

مگر سره له دی مجبوریتیا هغه زغرد نه شو کولی چه له خپل تعلیم او تربیت څخه (چه اصلی دولت او عزت او پنگه بلله شی) سترگی پټی کړی، او په معمولی کار و باندی (چه نتیجه به ئی لکه د دوی د پلار دژوندون په شانی وی) خپل ځان مشغول کاندی.

په دی فکر او تذبذب کښې (مجید) خوار څو هفتی نور هم په مکتب کښې پاتی شو، او زړه ئی و چه هر رنځ او تکلیف باید پخپل ځان واخلی، مگر د مکتب گټه له لاسه په ورپا سره و نه باسی، ترڅو چه د فارغ التحصیلی سند په لاس رانه وړی.

مگر (مجید) خوار پخپل دی عزم او اراده باندی ممکنه نه وه چه پاتی شی.

ولې چه زمانې ګرد کار و نه د انسان د ميل او د خواهش څخه چپ پېښېږي
او د روزګار تګ هميشه د انسان پخلاف لوېږي او له همدې جهته دی
چه په ګرده دنيا کښې به هيڅوک داسې پيدا نشي چه د فلک ګردش به پېټې
نه لري او د دنيا ګردو پېښو څخنې به تل خوښ وي . او بنائي چه په داسې
پېښو کښې د انسانانو قصور وي چه هغوی د دنيا واقعات په بده اړوي
او ګرځي پېښې د خپل خيال څخه چپ تفسير او تعبير کوي .

نو چاره په ده باندې منحصره شوه چه (مجيد) خپل آخرينې تصميم و نيسي، ځکه چه د ده کنډه رنډه مور (فاطمه) او وړې تېزې وررور (حميد د ده) کښتنې او پالنې او مرستې ته اړ او محتاج وو او دوی به د ده ته بانه کوله چه د کور او د وررور او د مور غم و خوري، او که نه دې به له لوږې او تندې څخنې له لاسه ووزي .

ده غوښته چه مدرسې ته لاړ شي، مګر دا نه نيت او اسلامت وظيفې له ده څخه نور شي هم غوښتل او هغه دا و چه د مورنې حق او د کورنې ضروريات ته هم پام ولري .

(مجيد) مجبور و په هغه چه زړه ګې غواړي پښه کېږدي ، او له تعليم او تربيې څخنې لاس واخلي او د مکتب د تګ او راتګ څخه پښه ونيسي ، لکه چه همداسې ئې هم وکړ او .

يوه ورځ صباګې ( ګهيځ ) مکتب ته تللې، پخوا لدې څخه چه د مکتب زنګ ووهه شي، د خپ د کلاس ګردو دوستانو او آشنايانو سره ګې ولېدل ، د ګردو سره ګې خداې پاماني او وداع وکوه او خپل کتابونه او قلمونه او مشواني او نور شيان ګې د هغوی په منځ کښې د يادګار په ډول و وېشل

ketabton.com - The Digital Library



او په داسې يو ډول چه ژړه ئې هم نه کېده ، په زړاسره له مکتبه پورته شه .

( مجيد ) خوار هيڅ نه پوهيده چه اوس چيرته لاړ شي ؟ او په کوم يو کار باندې پيل وکړي ؟ .

ګرده ورځ لکه ليونی دی خوا هغه خوا وګرځيده ، او دشپې په تياره کښې په نا اميدی او حسرت سره چه ستونی ئې له ژړا خخه ډک و ، خپل کورته ورغی تږی ستړی ستومانه راغی او ځمنی خپلی مور او ورور غوندی پخپله بستره باندې نهار پرېووت .

ګويا لمړی ځلی دی چه ( مجيد ) دژوندون ترېخ غوړپ وڅکلو ، او لږ څه ويوهيد لو چه په هوسائی سره شپې او ورځې تيرول څومره ګران دی . دی په دی اندازه سره غمجن او خفه و ، چه دخپل ځان دوژلو په فکر کښې واويد ، مګر زړننګ او غيرت ورته ورپه ياد او له خپل ځان سره ئې وويل چه دخپل ځان په وژلو اګر که په ظاهره ی ځو رز ه آ ر اميږم مګر په واقع کښې د خدای په نز د په آخرت کښې مسئول او ګرمېږم ، او هم مور او ورورمې خوار او زار پاتې کيږي . نو بهتره داده چه لکه نورو ځلميانو غوندی دميړانی ملا کلکه وتړم ، او دخپل د بنه ژوندون په ذريعه سره ، دخپلی مور او ورور ژوندون هم بنائسته او په هوسائی کړم .

په مجرد د تيريدلو ددی خيال ، دده په زړه کښې سمدلاسه هغه خفګان او پريشانی په خوشحالی او ډاډينه باندی بدله شوله او په دی خبره باندې ئې عزم او اراده ټينګه شوه چه ژوندون له بنائست او هر رازی ښه والی څخه ډک دی په دی شرط سره چه انسان زيار و کاږی او په ځان باندی زحمت ونيسی نو څوچه ددنيا آرامی او خوشحالی دده په برخه شی او په ژوندون کښې هر راز ی نعمت او هوسائی ځنی فائده من وګرزی .

ketabton.com - The Digital Library



تعجب مه کړی چه له داسی یولوی بدکاره یعنی دخپل د ځان له ورلو ځنی په عین مایوسی اوناامیدی کښې څرنګه (مجید) مخ وګرزاوه، اوهغه ژوندون ته چه څو د قیقی وړاندی له دې څخه ئی، هغه په بده سترګه کتلو، او له هغه څخه بیزاره شوی و، اوس په ښه سترګه ورته ګوری، او بیا ئی ورته امید واری پیدا شوی ده، او پخپل ځان باندی

هم زیات اعتماد او ډاډینه لری، او پو هیږی چه په دنیا کښې هیڅ داسی یو مشکل او سختی نشته چه دانسانی په عزم او اراده سره لری نشی مګر په دی شرط سره چه انسان در لودنکی د ټینګی ارادی او کلك عزم وی.

ولی چه دا ګردشیان ئی په مکتب کښې ځولځلی، اوستلی او له خپلو استاذانو ځنی ئی په وار وار، اوریدلی و.

څو ورځی پله پسی تیری شولی مګر (مجید) ته هیڅ یو کار او غریبی چه په هغه باندی مشغولیده، او له هغه څخه دخپلی دکورنی دقوت لا یموت وسیله پیدا کاندی، پیدا نشوه، او په لاس ئی ورنه غله،، مګر سره له هغه (مجید) تل د کار په پلټنه کښې بخت و او شپه او ورځ ئی فکر او خیال کښې همدا خبره پرته وه چه بیا ئی په هره وسیله سره چه وی باید کار وکړم، او له بیکاری څخه چه دګردو اخلاقی معائبو مورده ځان وژغورم.

دیوی میاشتی تګ اوراتګ او لټولو ځنی وروسته، په یوه تجارتی مؤسسه کښې یوه معمولی تنخواه (مجید) ځانته پیدا کړه، اګرکه داتنخواه ډیره لږه وه، مګر له هیڅه ښه وه، او دده دکورنی

سپوره ډوډۍ لاندې خښه بوديده ، او دغې په واسطه سره ددوی هلاکت او بدبختي چه له
یوې میاشتې یا خلویښتو شپو راهیسې په دوی باندې راغلې وه ، سپکېده .

اوس چه ( مجید ) ته کار پیدا شو او وئې لیده چه ددې دپلار د مړکېدو له ورځو ځنې
وروسته یاد دوی په کور کښې اول ځلې لوګی پورته شو، او د تودې ډوډۍ خوندئې په مزو مزو
سره وڅکلو ، نو سمدلاسه یو بل شوق ئې په زړه کښې واوېد ، او هغه داو ، چه اګر که
دورځې له مخې نوکریم ، او دخپل دبادار دکارو په سر رسولو باندې مصروف یم ، مګر
بیده دی چه دشپې له مخې خپل هغه درسونه او سبقونه ( چه پهدې څو کلو کښې مې په مکتب کښې
لوستلي دی ، او اوس له مجبورتیا بېرته پاتې دی ) بیاشروع کړم ، ترڅو زما داڅو کلنی زحمتونه
او خواري چه په مکتب کښې مې ایستلې ، او زما د مرحوم او غریب پلار پیسې په هغه باندې خرڅې
شوې دي ، ابته او خرابې نشي ، او په پای کښې زه هم وکولای شم چه دهغې له فائدې ځنې
له نن څخه زیاتې ګټې ځان ته په لاس راوړم .

اګرکه داکار هم سخت کارو ، او دهرچا دلاسه نه وه پوره ، چه دورځې او د شپې
له مخې یو رنګه مصروف وي ، او یو ډ ګړې هم هوسائې ونه لري، مګر ( مجید ) له هغو ځلمیانو څخه نه وچه
هغوی له کاره زر زر ستړي کېږي، او په لږ څه کار کولو سره فی الحال په چیغو شي او وائي چه ستړي ستومانه
شوی یم او ضروردی چه اوس خولږ څه تفریح او تنفس وکړم ترڅو زما دلاسه تللې قواوې
بېرته په ځای راشي .

په پای کښې ( مجید ) ددې ضرب المثل په فحوا چه « لټو ننګی ، مونډو ننګی دی » د خپل
پهدې مقصد باندې هم ورسېده او په یوه لیلیه دحقوقو مدرسه کښې، وروسته له ورکړو لو
دامتحان ځنې قبول شو، او په شپږ میاشتنی امتحان کښې کامیاب ګرزېدلې عالي الاعلی درجهٔئې
وګټله او دده نوم نه یوازې دوزارت معارف په مخصوصه مجله کښې بلکه دښار په ګردو رسمی
او نیم رسمی او ملي اخبارو کښې، سره دعکسه ددده ، په پېښو لیکو سره خپور ، او په ګرد ومهمو

ketabton.com - The Digital Library



ځایو کښې مشهور او وېښژانده شو، او د دې شهرت په اثر کښې دی ته د یوې لوړې حکومتي اداري له خوا بلنه وشوه، چه دی هلته کار وکړي .

نو ده هم له خپل پلار سره خدای پاماني کړي ، له هغې تجارتي مؤسسې څخه وتلی په هغې رسمي اداري کښې ننووت ، او هلته ئې هم خپل مفوضه کارونه په داسې امانت داري او فعالیت سره ټول انجامول ، چه د مربوطه اداري ګردو آمرینو او مامورینو به د ( مجید ) د کار و او د اخلاقو ستائل او تمجید کاوه . او دی به په دې صفتو سره نه غره کېداو ، بلکه دې ستائنې به دده په زحمت کښې او زیار ویستلو باندې ډېر اثر اچاوه او ده به لازیات کار کاوه او خپل اخلاق او عادات به ئې هم له پخوانه لا ډېر ښه ښکاره ول . او د شپې له خوا به ټول هغه د حقوقو لیلیه مدرسې ته تللو ، او هلته په ډېره زیاته اندازه سره د خپلو استاذانو د مینې وړ ګرزېدلی ، شاګردانو به هم ده سره ډېر محبت کاوه او ده هم څرنګه چه پخپلو سبقو کښې زیار او زحمت ویستلو ، همغسې به په امتحانو کښې هم ټل اول نمبر ووت ، تر دې چه په خپل زړه پورې ښه شهادتنامه ئې ځانته حاصله کړله ، او د دې په اثر او د خپلې د ښې سابقې په وجه سره دده معاش او رتبه هم اوچته شوه ، او په دې اصول سره دده ژوندون ورځ په ورځ ښه کېده ، او دده په سېوري کښې ، مور او ورورګي هم په هوسائې شول ، او د دوی کور د سعادت او د نیکبختي مینه وګرزېده ، او په بله ژبه هغه خوار او کمبخت ( مجید ) د خپل د زیار او زحمت ویستلو په اثر سعادتمن او نیکبخت شو ، او په خپل مقصد باندې همغسې ئې چه غوښته ، ورسېده .

وروسته له دې څخه هغه کچنی کورنی د خپل د ژوندون شپې او ورځې په ډېره آرامي او هوسائې سره تېره ولې او ( مجید ) د خپلې مور ډېر عزت او خدمت کاوه او دومره ئې

ketabton.com - The Digital Library



په ډېره سرګړه سره ورته کتل ، چه تقریبا ددی رضامندی او خوشحالۍ ګټل نی وروسته له نمانځه او روژی څخه خپل ځان باندی لکه د عبادت ګرزولی و ، او هم دارنګی به ګی د خپل د ورور ( حمید ) زړه هم تل ښه ساتلو ، او د ده په روزنه او تربیت کښی به ئی هم ډیر زیات زیار و یستلو او شپه او ورځ به په همدی فکر کښی وچه ډده په زړه پوری د ده ورور ( حمید ) پخپلو سبقو کښی مشغول وی تر څو چه په امتحانو کښی کامیاب او په نتیجه کښی ئی د خپل د مکتب دوره پای ته رسولی د شهادتنامی په اخیستلو باندی بریالی شی .

## دوهم ټوک

څو کاله همداسی په خوبنی او خوشحالی سره په دی کچنی مسعودی کورنی باندی تیری شوی او ( مجید ) څرنګه چه د زیاتی کسبی خاوند و ، او یو څه مبلغ پیسی ئی په بانک کښی هم در لودلی نو مور ئی دده دواده په فکر کښی ولویده ، او په دی موضوع کښی ئی خپل زوی ( مجید ) سره مشوره وکړه . مګر ( مجید ) ددی خبری څخه سر وغړولو او وئی ویل چه زه اوس د خپل دواده دپاره تیار نه یم .

هو مګر چه دده مور په ده باندی په دی موضوع کښی زور اچاوه او څو ځلی او په څو ور ځو او څو مجلسو کښی ئی په ده باندی دواده په نسبت اصرار کاوه ، غیر له همغه د ومبنی ځواب څخه بل ځواب به ئی له ده ځنی نه آوریده ، تر دی چه وروسته له ډیر ګفتګوی او خبر و څخه ( مجید ) د خپل دزړه خبره خپلی مورته ښکاره کړه ، او وئی ویل چه زه غواړم تر څو چه د ( حمید ) د مکتب دوری پای ته نه وی رسیدلی ، زه واده نه کوم او وروسته له هغه به خپل ځان او خپل ورورته یو ځای واده وکړم ، ددی خبری په مقابل کښی دده مور ناچاره چوپه شوه او زیات له دینه ئی په دی موضوع کښی څه ونه ویل .

ketabton.com - The Digital Library



( حمید ) به یه مکتب کښی په ډیر شوق اوذوق سره خپل سبقونه ویل او ضبطول ئی او خپله ( متوسطه ) دوره ئی په ډیر موفقیت او کامیابی سره پای ته ورسوله اووروسته له هغه د ( طب ) په شعبه کښی داخل شو . اودخپل دتحصیلاتو په ټولو دورو کښی په نورو طالبانو په هوښیاری،اوپوهنی سره مشهوره و، او په ګردوشپږ میاشتنی اوکلنی امتحانوکښی به تل اول نمبر خوت. اوله شلوڅلوڅخه ئی زیات ، دخپل دمکتب دمدیرله خوا ، دافتخار او دلیاقت پاڼه آخستی وه .

(مجید) به هم دده په باره کښی له هیڅ شی څخه لږ زوالی اوسپمول نه کولو او د ( حمید ) ګرد تعلیمی ضروریات به ئی( اګرکه ډیری پیسی به هم ورباندی لګیدلی) سره برابر ه ولی اوتل به په دی خیال کښی و ، چه خپل د ی کچنی ورورته دژوندون لارورونښئی ، او د ده حیات دبدبختی له تیاری څخه ، دسعادت اونیکبختی رڼاته وروباسی . اوهروخت چه داخبره دده په زړه کښی تیریده ، چه دی دخپل کچنی ورور په نسبت ، د خپل د ورورولی لازمی وظیفی په ښه شانی سره انجاموی ، د خوشحالی اوخوشبختی ځلا ندده به ئی په زړه کښی وبریښیده ، او خپل ځان به ئی دجهان له سعادتمندانو څخه شمیره .

هو! هغه څوک چه خپله انسانی او وجدانی وظیفه پای ته رسوی څه عوض اوبدله به له دی څخه زیات مومی چه دخپل دهغی وظیفی پیژندلو په واسطه ، دنیوی اواخروی سعاداتو ته رسیږی ، اودخالق او دمخلوق رضامندی دهغی په واسطه سره لاس ته راوړی .

(حمید ) هم هرکله چه دخپل دلوی ورور دا مهربانی ، او دا روزنه ، او دا شفقت اودالورینه لیده ، یوغیبی قوت اوقدرت به ئی په زړه کښی پیدا کیده ، اوروح به ئی خوشحالیده اوپه دی واسطه سره به ئی په ګردوسختیو اومشکلاتو باندی بری مونده کاوه او ټول به ئی خپلو ښوو لاندی کړ ی ، دخپل دموفقیت په لوری تلو .

( مجید )هم له دی خپل ژوندانه ځنی ډیر خوشحال و ، ولی چه دراودونکی دیوی مهربانی مور لکه (فاطمه) اویو وظیفه شناس تابعداره خوش اخلاقه ورورلکه ( حمید ) و ، اودی هم له دی څخه څه زیات شی ته چندانی اړنه و .

ولې چه سعادت او خوشبختي دومره ګرانه او سخته هم نه ده لکه چه ځينې کسان ئې تصور کوي بلکه هغه شيان چه مونږ د سعادت په لوري سموي زيات دي . بلې ! سعادتمن کېدل آسانه دي مګر تل سعادتمن پاتې کېدل سخت بلکه شاق دي .

هو! (مجيد-حميد) او د دوی مور، دری واړه سره اوس خوش نصيب او سعادتمن دي که د دوی دا سعادتمندي او خوش نصيبي تر ډېره وخته پورې پاتې شي .

ناڅاپه د دوی مور رنځوره شوه او په بستره کښې پرېوته .

داوه د دوی د بدبختۍ لمړی منزل .

ددې رنځورۍ مور مرض ئې ډېر وځنډېداو ، او دوی ، ددې په درد او دونهاندی ستړي ستومانه شول او د ډاکټرانو به ئې ډېر خوش آمدونه کول ، او ډېرې پيسې به ئې ښندلې ، د شپې او د ورځې به لا لهانده او ګرځانده وو .

(مجيد) به د شپې له اوري تر ګهيځه د خپلې د مور د چپرکټ په خوا کښې ناست و. او د ورځې له ځي به خپل کار ته تللو او د مور خدمت به ئې (حميد) ته پرېښوده ، (حميد) به هم د مکتب له تګه پاتې او ترشپې پورې د خپلې د مور په خدمت کښې مصروف و .

(مجيد) به د غرمې له رخصتي ځنې هم استفاده کوله او په يو ګړائي موټر کښې به ئې له ډاکټرانو د دوا سره په ولاړ ورپېښو خپل ځان تر خپلې مور پورې رسا وه .

او وروسته ددې له کتلو او پوښتنې او دوا ورکولو ، او د (حميد) د لازمه هدايا تو ور کولو څخه بيرته به د ډاکټر سره په موټر کښې خپل کار ته ورته ، او حال داوه چه زړه به ئې بالکل په خپلې مور پسې هم ډېر بخښېده ، او د ماز دېګر له خوابه هم وختي بيا په موټر کښې د خپلې د مور خدمت لپاره له لازمه دواو سره راتاو .

نو هر کله چه پښتانه وائي چه « نه کوي حبيب، څه به وکړي خوار طبيب » د ډاکټرانو د دواوو او دا د ( مجيد ) الوند بلوند او الول، او د ( حميد ) زيار، او زحمت هيڅ يوه فائده هم ئې رنځورئ ته ونه رسوله، او ددې متل په اساس چه « د گور شپه په کور کښې نه کيږي » وروسته د يو کال رنځورئ او معالجې څخه کمبخته ( فاطمه ) مړه شوه او خپل دواړه ځامن ئې په ژړا او انگولا کښې کينول، ولې چه دوى دواړه وپوهيدلو، چه د دوى د نيکبختئ پنگه د دوى له لاسه ووتله، او پس لدينه دوى در په در او خاورې په سر کيږي .

هو! مور داولاد په نسبت د رحمت فرشته او د رأفت مجسمه ده او پښتانه وائي ( هر هغه اولاد چه مور لري نو نور څه غواړي او هغه کمکي چه مور نه لري نو څه لري ؟)

وروسته لدې چه دواړه و رونړه د خپلې مور د تکفين او تجهيز او تدفين څخه فارغ شول او خپل کور ته بيرته وگرځيدل، کور د دوى په نظر کښې لکه گور داسې ښکاريده، او پس لدينه چه د دوى مهربانه مور له دې کوره د مرگ په لاره لاړه، په دې کور کښې ناسته او ولاړه دوى ته چنداني خوند نه ورکاوه .

( مجيد ) به ډير لږ کورته راتلو او هغه هم فقط د خوب په وخت کښې .

او ( حميد ) به هم چه له پخوا څخه چه د مکتب د رخصتئ سره جوخت په کور کښې حاضر وه اوس پس له ماښامه کورته راتلی او دی هم به دې گوښې کور کښې يواځې او يکسه ناست او ډير به خپه و، او ددې په ځای چه ( لکه پخوا ) د خپلو سبقو په ضبطولو بساندې مشغول شي، اوس چه په دې کور کښې راشي هك پك پاتې په يوې گوښې کښې چپ او خپه کيني او په راز راز فکرو او چرتو کښې ( چه ټول به له اوهامو او خرافاتو ځنې ډك و ) لويږي .

ketabton.com - The Digital Library



رښتیا دادي که (مجید) ځان په رسمي کارو باندې مشغول نکړي، او (حمید) دوړځې له مخې مکتب ته لاړ نشي، نو دې خبرې څخه به ویره وه چه چیرې لیونی نشي ولې چه چټې خیالات ار بیکاره اوهامو ددوی د واړو په ماغزو کښې ځای نیولی و.

د (مجید) په نسبت (حمید) ته به زیاتې اندېښنې او چټې خبرې په زړه کښې لویدې او د شپې له مخې کله کله ځینې جنون آمیزه حرکات هم ځنې لیدل کېدل نو هر کله چه دی به په کور کښې یوائې ملاست و، څوك به دده په دې او ضاعو او حرکاتو باندې نه پوهیدو، اونه خبر یدو، او له دې جهته به دې دواړو وروڼو باندې به ورځې په ډېر ځند یدلو سره تیریدلې.

## د ریم تواك

(مجید) له یوائې توب او تنهائې څخه ډېر په تنګ شو، او نژدې وچه لیونی شي، نو دځینې ملګریو او دوستانو په مشوره، او د خپلې کورنۍ د ضروریاتو په تقاضا سره مجبور شو، چه دواده کولو په فکر کښې ولویږي.

ځکه چه په حقیقت سره انسانان ګویا داسې خلق شویدي، چه په ګردو شیانو کښې دیوا و بل مرستې ته اړه او احتیاج لري، او بې له دې اړتوب او احتیاج څخه یوائې ژوندون نشي کولای، او له همدې سببه وچه «آدم» علی نبینا وعلیه الصلوة والسلام ور وسته له دې چه «دالهي» (ج) په خلافت سره ئې په ځمکه کښې افتخار بیا موندلو، او په جنت دار الخلافت کښې کیناستلو پس له هغه ځنې چه حضرت «جبرئیل» علیه السلام به دده له حضوره رخصتیده دې به له یوائې توب او تنهائې ځنې ډېر متأثر کیده، او د خدای تعالی له مرحمته دده دمشغولتیا او انسیت له خاطره بي بي «حوا» علیها السلام خلق شوه.

نو له دې جهته (مجید) هم لکه نورو ځلمیانو غوندې ددې روحي احتیاجه ځنې متحسس شو، او د یوې ښې ښځې انتخاب پسې ولویده.

ketabton.com - The Digital Library



مگر دا کار ده تهٔ خوراگران و ، ولی چه مورګی مړه شوی وه، او بله کومه نژدی خپله او خپلوانه ګی هم نه درلوده، چه په دی لوی کار کښی (چه ښځتانه ورته «د عمر سوهان» وائی) ده سره مرسته وکوی .

( مجید ) ډیر وخت ددی کار په فکر کښی و، مگر هیڅ یوه وسیله او ذریعه به ورته نه پیدا کیده ، تردی چه په خپلو همسایگانو کښی ګی یوی ښودی ښځی سره ملاقات وکولو، او هغه ګی په دی ضرورت باندی وپوهوله .

گویا چه زړی ښځی فقط دهمدی ښوکار و دپه سرر سولو لپاره ژوندی دی لکه چه د ( مجید ) و ارهم په خطا لاړنه شو. ځکه چه هغه سپین سری همسایه دده دوا ده دپاره متوجه شواه .

داموضوع چه اول پلا دهغی سپین سری په نظر کښی ساده، اومعمولی ښکاریده ، وروسته ډیره سخته شوه ولی چه ( مجید ) به داسی نجلی پسی گرزیده چه د ده په زړه کښی وه، اودی بدی به چه د هری یوی نجلی صفت ورته کاوه ، اوهویت به ګی ده ته و یل ، ده به د هغی له کتلو، اوکړلو ځنی په راز راز پلمو او بهانو سره سر غړاوه .

هو ! دنکاح په مقدس امر کښی ډیر احتیاط ، او ډیر وړاندی ، او وروسته کتل په کاردی ، اوډیر زیات لازم دی چه تل ناوی د زوم په زړه پوری وی، او په داسی مواردو کښی دنورو کسانو مداخله نه یواځی بیځایه بلکه مضره او با لکل چټی ده .

لکه چه وویل شول له یوی خوا ( مجید ) د نجلی په خوښو لو کښی ډیر مشکل پسند اوزرزری واقع شوی و، او له بل لوری به د نجنکیو پلر و ا و میندو هم له دی ځلمی څخه خپل ځانونه ژغورلو ولی چه په همغه اوله ورځ کښی چه ( مجید ) هغی سپین سری ښځی سره په دی موضوع کښی خبری کولی نورو پرد یو ښځو تر شا دده گردی خبری ( چه د خپلی مفروضی

ketabton.com - The Digital Library



ښځې داوصافو په نسبت سره ئې بیانولی ) واوریدلی او هغه ئې لکه چه دښځو عادت دی زر ترزره په کلی او کور کښې خبری کړلی په سر ددی دا متواتر انکار، او مخ گرزول د ( مجید ) د هر رازی ښې او ښائسته نجنی د قبلولو څخه دا خبر لا ټینګه کړه چه ( مجید ) لوبې کوی او په خلقو مسخری جوړوی، او که نه داسی ښځه چه پدی صفت سره ئې ستائی چیرته پیدا کیږی.

لکه چه ښځو به پخپلو منځو کښې ویل، او دا خبری ئې خوله په خوله کوڅه په کوڅه بلکه تر ډېره لری ځایو پوری رسولی وی، ( مجید ) هغه سپین سری ښځی ته ویلی و:

زه داسی ښځه اخوم چه ماسره په خوشحالی، او خپګان کښې تل
ملګری وی، په ژوندون کښې همیشه مرستی را سره کوی صبا
او بیګا زما پخدمت کښې لګیاوی، زما زړه له هره حیثه ښه ساتی
زما په کور او ورور باندې فهم لرنه لری زما د غمو او اندیښنو
په لیرولو کښې تل ډیر زیات زیار باسی. او دخپلی مهر بانی او
عواطفو په غیږ کښې می تل روزوی ...

له دی راز خبرو څخه په ئې زیات ویل او ډیری نوری خبری ئې هم لکه چه دښځو عادت دی په دی خبرو پسی له خپلو ځانو څخه جوړی کړی وی چه ( مجید ) له هغو ځنی هیڅ خبر هم نه و پهر تقدیر سره گویا چه ( مجید ) دخپلی ښځی په غوره کولو او انتخابولو کښې دیو مخصوص ذوق لرونکی دی چه د نورو خلقو له فکرو ځنی جلا دی.

دا مطلب زر ترزره ښکاره شو ولی چه هغی سپین سری ده ته خبر ورکړلو چه یوه ښه جلی می درته پیدا کړی ده، او وروسته له هغه ئې گرده قصه ده ته په ډیر شور او زور سره وویله

داسې ښځه ده چه مخ ئې لکه د نور لمبې ښیوږمې اودواړه غټې غټې سترګې ئې تورې ناغه داري، اوتورې نرۍ کږې ورځې ئې لیندۍ، اوتور بانه ئې لکه تیره غشي او سم قد ئې لکه سرو، اوسپین غاښونه ئې د نور د ګلې په شانې، او دواړه شونډې ئې سرې لکه عناب، او ... اوپلار ئې هم شته‌من دی.

( مجید ) په تلوار سره ددې سپین سرې ښځې له خولې ځینې خبرې اخیستې وئې ویل:

مورکی! داسې ښځې زما په کار نه ده.

سپین سرې ښځه له خوراتعجبه په چیغو ګډه شوه، ولې چه داسې انتظارئې نه درلودلو چه له ( مجید ) ځنې به د داسې پیغلې شته منې ښځې په مقابل کښې داسې ځواب واورې او اوس ئې چه داخبره دده له خولې اوریدلې هم ده، بیائې هم یقین ورباندې نه راتلې چه یو داسې حاجتمن مجرد ښکلې ځلمی، د داسې یوې ښکلې ګلالۍ ښځې په مقابل کښې داسې یوه خبره وکړي ...

لږ څه وخت تیر نه و چه د ( مجید ) اصرار اوویناو دا ښځه په اصلي مطلب باندې وپوهوله او ورو ورو سته له هغه څخه هغه سپین سرې ښځه د هغې ښځې په لټولو کښې ولویده چه ( مجید ) غوښته.

اوس نو ښائي چه مونږ وګورو چه د ( مجید ) ددې مخ آړولو سبب څه شی و؟!...
(مجید) به‌تل فکر کاوه که له یوې شته منې کورنۍ څخه دې ښځه وکړي نو نه یوازې د ده به واده کښې ډیرې پیسې خرڅیږي بلکه تل به په هغه باندې د ده ډیر لګتونه کیږي او ویلې به ئې چه په پای کښې به له یوه پلوه زه و نشم کولای چه خپل هغه پوروونه چه په ما باندې زما د خواخوږې مور د رنځورۍ، او د ګور، او کفن په وجه سره پراته دي ادا کړم، او له بل لوري زما د ورور (حمید) په تعلیماتو کښې د پیسې د نشتوالي په سبب سره ډیل او معطلي پېښیږي، او د هغه تعلیمات ناتمامه پاتې کیږي چه دا دواړه کارونه ښه نه دي.

هو! (مجید) هغو ښته چه‌په‌دې باندې ترډېره وخته پورې دخلقو پوروي، ولې چه دا خبره د ده‌دبې اعتباري او سپکوالي سبب کېده، او هم ئې په‌دې خبره باندې اوریدنه‌وه چه ورورګلي دتحصیل له سعادت څخه وروسته لدې څخه چه‌څو کلونه ئې زیار او زحمت په‌ځان باندې اخیستی دی بې نصیبه پاتې شي، او پدې وخت کښې، دخپل ځان، اودخپل ورور دخوراك، اوپوښاك اودخپل کور داستضاء لپاره مجبوروه چه‌خپل کورهم ودان کړي ... نولکه ده‌دګردوامورو غیر لدې څخه په‌بل صورت سرته‌توانۍ نه‌شوی‌پیدا کولی چه‌دی په‌یوه عاجزه کورنی‌کښې ورننوزی او له هغې [illegible] وه ښائسته، اوپېغلې، اوتعلیمیافته نجلۍ ځان‌ته واده کړي.

[illegible]ته ئې کار سم شو. او هغې بوډې د ده‌ته ددې په زړه پورې یوه نجلۍ پیدا کړه او دوه درې هفتې نه‌وې‌تېرې‌شوې‌چه ګرد وکارو دده په زړه پورې صورت ونیو لوا او په دې کچنی کورنۍ باندې چه عبارت واده‌وه پښایانو ورونو څخه یوه‌ښائسته‌او ګلالۍ او تعلیمیافته‌نجلۍ هم ورته سوله چه دهغې ساري په‌هغې سیمه کښې لږپیدا کېدلو... او دا کور چه تر اوسه پورې دیوه قبرستان په‌منزله‌تې اوتیاره ښکاریده، اوس د ګلستان په شانې ښائسته شوې او یو نوې رنګ او رونق ئې پیدا کړی دی ...

یعنې ( مجید ) واده وکولو او متاهل شو. او خپله ښځه ئې کورته راوستله. اوددوی په ژوندون کښې نوې یوه دوره شروع شوله. له سرګردانی او پریشانی څخه ګرد خلاص شول دښې له مخې په ( چې له پخوا څخه چه ډېر کله به هیڅ نه راتلو. او کله راتلو به هم فقط دخوب په‌وخت کښې به‌و) ورراوډېر په وختې کورته راتلو. او درخصتی اودتعطیل په ورځو کښې به‌هم له صباحه ترېګاپورې په کور کښې ناست و. که رښتیا وویل شی ګو یا چه اوس ( مجید ) د ژوندانه په خوند باندې وپوهېدلو چه له خپلې پېغلې ښځې سره ئې چه نوم ئې ( حبیبه ) و، ناسته او ولاړه او خبرې او اترې کولې.

ketabton.com - The Digital Library

## ۱۷

## خاورم تولک

اگر که (حمید) دخپل دتحصیل اوتعلیم په کاروکښې بخت او مصروف و، مګر د (حبیبې) راتګ دهغه په ژوندون کښې هم بې اثره نه و.

لکه چه ښځه د خاوند تعالی دیو لوی نعمت او رحمت په منزله ده چه هرچیری پښه کیږدی اولاس ئی ورسیږی هلته سعادت اوآرامی او هوسائی پیدا اودژوندون خوند ځرګندیږی ! . . .

(حمید) دخپلی موردمړه کیدوڅخه راپسی دآرامی اودهوسائی مخ نه وه لیدلی . ولی همداچه (حبیبه) ددوی په کور کښې ننوته دده هم له بدبختی اورنځ او تکلیف څخه نجات پیاموند .

که رښتیا وویل شی ګو یاچه دادواړه ورونه سره دیمخی (حبیبه) په خپل خونده ور ژوندون نوی ورګډ شوی دی . اوخپله هغه پخوانی بدبختی اوسرګردانی ئی بالکل له خاطره بهر کړیده . . .

مګر دی سره به څوك څه وکړی شی چه روزګار هیڅ یوشی پخپل حال باندی په قرار نه پریږدی ، اوخوشبختی او بدبختی دواړه لکه ژمی اوودی او پسرلی اوخزان غوندی یله پسی زمونږ په ژوندون کښې ځرګندیږی اوهرشی اوهرڅیز ژر ترژره دتغیراوتبدیل په معرض کښې واقع کیږی . .

ketabton.com - The Digital Library



( مجید ـ حمید ـ حبیبه) دری واړه یوه کچنی کورنی سره گرز یدلی دی . اودوی درد په ډیره خوشحالی اوهوسائی سره شپی اوورځی تیره وی .

دورځی له مخی ( مجید ) خپلی نوکری ته ځی . او ( حمید ) خپل کتابو نه تر تخر گ لاندی نیولی مکتب ته درومی . او ( حبیبه ) ددوی دوتلوڅخه وروسته په جارو کولو او د لوښیو په وینځلو او په گنډلو او پخلی اونورد کورنی کارو پاندی لگیا کیږی . .

دیگا له اوری ( مجید اوحمید ) وختی کورته بیرته ورگرځی او په مجرد د ننو تلو په کور کښی د هغی دانتظام او ښائست ځنی خو شحا لیږی او بیا دری واړه سره یوځای ددغه چای په څکلو باندی (چه‌عین ددوی دراتگ په وخت کښی‌ئی او په تیاری‌خوښیدلی وی او‌سه‌دلاسه دمیزی ) مشغولیږی او وروسته له اداء کولو دماښام دمانځه دری‌واړه‌سره یوځای په یوه میز باندی دډوډی په خوړلو باندی پیل کوی. اوپوله بله سره په عین خوراک کښی خوږی خوږی خبری اواتری هم کوی . وروسته له ډوډی خوړلو او چای څکلو څخه دری واړه دماسختن لمونځ اداء کوی او وروسته له هغه په ( حمید ) له خپل ورور او وریندار سره خدای پامانی کړی خپلی‌بلی‌خونی‌ته تلوا وهلته‌ئی دخوب تر وخته‌پوری خپل سبقو نه اودرسونه ضبطول ، اوبیابه ویده کیدلو .

پوهان وائی : هرچیری چه عشق اوهوسائی وی هلته به سعادت اوآرامی هم وی .

نو له همدی جهته‌وچه‌دوی دری‌واړو په ډیره مینه اومحبت سره ژوندون او گذران کاوه . اوپوله بل‌ځنی بیحده‌اوبی انداری‌خوشحال‌اوخوښ وو . اوداورځی‌اوشپی به‌ئی په‌ډیره هوسائی اوآرامی سره تیره ولی :

( مجید ) له خپلی ښځی سره له‌حده زیاته مینه‌او محبت کاوه . او له خپل کچنی ورور ( حمید ) سره به‌ئی‌هم تل شفقت اومحبت کولو . اودوی دواړو به‌هم‌په ډیراحترام اومحبت سره

ketabton.com - The Digital Library



(مجید) ته کتلو او دده دا وامر او دا شارو په ځای راوړلو کښې به ګی زیار و یستلو . په تیره بیا ( حمید ) به د خپل مشر ورور دومره تابعدار ی کو له چه تقریبا د عبادت منز لی ته ډیره نژدی وه ،

ولی چه ( مجید ) نه یوازی د ده بیا ئلی مشر و رور و ، بلکه د شفقت ، او د مرحمت له لوری ده ته د مشفق ، او مهربان پلار په ځای و . نو ( حمید ) به هم د خپل د ( مجید ) مشر و رور دوه غبرګی تعظیم اوتکریم کاوه اود خپل د ورور له خاطره به ئې د خپلې ورینداری هم ډیر عزت او احترام کاوه او د دی د ګردو خدمتونو اواوامرو په ځای راوړلو کښې به ئې هم زیار و یستلو ، او بالمقابل دده ورینداری به هم ده ته په ډیرنه سترګه کتل ، او هغه لازمه خدمتونه چه بنائی یوه ګرانه ورینداری ئې خپل لیورته وکړی د هغه به ئې په ډیر اخلاص اومحبت سره په ځای راوړل .

لنډه دا چه هغو دری واړو به یو له بله داسی مینه ، او محبت سره کاوه چه له وراښخه د یو وجود په منزله په نظر راتلل ، او هرچا چه د دوی دا ګرمجوشی ، او ګډلون ، او لورینه لیدله ، نو دا به ئې په خیال کښې راوړ او ، چه دا دری سره په دری بدنو کښې یوه ساه او یوروح لری .

## پنځم ټوک

هرکله چه د امتحان وخت نژدی کیدو . نو ( حمید ) به د ورځی له مخی په کورکښې پاتی کیده ، او خپل سبقونه به ئې تکرار ، او ګرداڼول . ترڅو چه خپل ځان د طب امتحان ورکولو ته سنبال کړی .

( حبیبه ) به هم د خپلو کارودپه سرر سولوڅخه وروسته د و زګاری په وخت کښې یوه نیمه شیبه د ده خونی ته ورتلله ددی خوا ، او دهغی خوا خبری به ئې کولی . او چتی چتی

په خندېده ، او خوار ( حمید ) به ئې له کاره ایستلو ، ځکه به ئې د ده په کتابو کښې لاس وهلو او دهغو پاڼی به ئې دی خوا ، هغی خوا اچولی ، او عکسونو ته به ئې خیر کېده ځکه به ئې هغه ټنی اسبابو ته چه هیڅ دضرورت پوره کولو لپاره موجود وه ، ورځینی پتول پاڼی ورځینی تبتول .

ډېرسی مندی وهلی ، او خپل اسباب به ئې بېرته ورځینی اخیستو ، او بیا به پخپل کار باندی مصروفېدو . مگر ( حبیبه ) به بیا ورتله ، او په همغو اوبو به ئې لاس پوری کاوه ، او د ( حمید ) له پخسو لو ځینی به ئې لاس نه آخیستلو .

د ډیر ځلی به د اسی هم پېښېده چه ( حمید ) به د دی د تو قو دلاسه په قهر کېده مگر دده دی قهر به هیڅ یو اثر په ( حبیبه ) باندی نه کاوه ، بلکه هغه به لا خوشحالېده ، او دده ګنځاو او د قهر په مقابل کښې به کټ کټ خندیده ، او تېغ تېغ به ئې ورته کتل ، لنډه دا چه دغی ځوانی پیمخی ښځی به سره له عصبانیت ، او خپه کېدلو د ( حمید ) همغسی سپین ستر ګتیا کوله

ځکه چه د ځوانی ښځی روح کټ مټ لکه یو زړه وروونکی ښائسته بوراغوندی دی ، او همغسی چه بور ا ځان په راز راز ګلانو باندی مینی ، او له یو ځنی پا خیدلی ، په بل باندی کینی همداشانی ځوانی ښځی هم که څه قید ، او بست ور باندی نه وی او پخپل سر آزاده وی همداړنګی کار و نه به کوی .

ketabton.com - The Digital Library



(حبیبه) به هم تل د (حمید) په شا ؤ خوا کښې د بورایه شانی گرزیده، او د (حمید) دمعا شرت، او له نا ستی و لا ړی څخه به ز یا ته محظوظه، او خوشحالیده، او همیشه به ئې زیار و یستلو چه د (حمید) سترگی ځا نته ور وا ړ وی .

همدا چه (حبیبی) به لید لو چه (حمید) دکتا بو په مطا لعه کښې ډ و ب دی او یخپلو سبقو کښې مشغو لتیا لری، نو له حده ز یا ته به خپه کید ه، او ددی په کلمو کښې به چا ړ ه گر ز ید ه، او د اسی ئې په ز ړه کښې سنجوله چه یا څیز ی، او د (حمید) گر د کتا بو نه او اسبا بونه په یو تنا ره کښې واچوی، اوو ئې سو ز ی چه دی ولی دی ته نه گو ر ی او دی، سره خبری نه کوی چه تل خپلو کتا بو ته گو ری، او په هغه لیك، او لو ستو با ندی مشغول دی.

په رښتیا سره ښی او پیمخی ښځی گردی همداسی عادت لری چه غواړی نو ر کسان ټول هغه شیان چه غیر له دوی څخه وی، ایسته و غو رځوی، او هیڅ و رته و نه گو ری، او فقط همدی ته گو ر ی، او تل د وی سره ښائی چه مشغولتیا ولری .

(حبیبه) هم په همدی عمومی حس کښې اخته وه. دور ځی څو ځلی د (حمید) خونی ته ورتله، اوهغه به ئې له کاره ایسته، اونه ئې پریښوده چه خپل مقصدته ورسیږی .

هر کله به چه (حمید) غو ښته چه دا په قراری، او د لا سا سره له خپل ځانه لری کړ ی هم نه کیده، او که خپه کیده هم څه فائده ورځنی نه مرتبیده، اوکه په قهریده هم په هغې پیمخی ښځی باندی دده قهر کوم اثر نه آچاوه .

ketabton.com - The Digital Library



دهمدی جهته دی چه اروپائیان وائی : (ښځی د نارینو
په نسبت لکه سیوری داډول دی، که نارینه له ښځی څخه وتښتی ؛
نو هغه هم له ده سره روانه وی، او نه تری جلا کیږی ) .

نوهر کله چه (حبیبه) به د (حمید) دا بی پروائی ، او بی اعتنائی ته کتل ، پخپلی سپین سترگی کښ به ئی لا زیات توب کاوه ، او دورځی ډیر ساعتونه به ئی له ده سره دده په خونه کښ په همدی لوبو او پخولو سره تیرول .

دا ښم باید وویل شی چه د (حبیبی) په زړه کښ یوه خاشه د بی وفائی او د خیانت نه د خیل دمیړه (مجید) په نسبت سره نه وه، او له خپل میړه سره ئی بی نهایته اخلاص، او محبت درلود او په ده باندی ډیره رضیره او مهربانه وه او په دی اندازه سره ئی د خپل میړه اطاعت، او تابعداری کوله چه له وراتتر پیاد عبادت په منزله بکاریده . له بل اوری داهم له هرد حینه ښا کره وه، او هرشی وزته رسیده ، او له خپلی ناستی او ملاستی څخه ئی هم څه شکایت نه لرلو .
نو بیائی له (حمید ) څخه څه غوښتل ؟ . .

( حمید ) ددی په نظر کښ داسی خوږ او محبوب و ، لکه د دی وړور ، او داسی مینه او محبت ئی ور سره کاوه ، لکه چه یوه خوا خوږی خور ئی له خپل وروره سره کوی .
او دا یو معمولی کار دی . هوښیارانو ویلی دی :

« ددوو ځوانانو زوج ، دیو او بل په نژدیکت کښ د آشنائی تاداو ږ دی .
نو هر کله چه د آشنائی تخم د زړه په منځ کښ زرغون شی ، له هغه څخه د دوستی
داسی نهال شین کیږی چه پای ئی معلوم نه وی ، بنائی چه دا د دوستی نهال یو ه

ketabton.com - The Digital Library



ورځ دعشق میوه ونیسی. او ممکنه ده چه یه هغه د ومینو ورځو کښی له بی پروائی او تندی ځنی وچ شی ، او ډیر ذاسی هم پیښیږی ، چه ددنیا حوادث هغه له ستی ځخه و باسی دا دژوندن یوه یانه ده چه هیڅوك دهغی له دقائقو ځخه خبر نه دی . »

(حبیبه) او (حمید) هم په اول ستی یو بل سره آشنایان و . مگر اوس ددوی آشنائی د دوستی تر مرتبی پوری رسیدلی ده . او داهم یو معمولی شی دی او چندانی په خپلوی کښی مهم نه گڼله شی .

## شپږم توك

یوه ورځ (حمید) پخپل کورکښی سبق ویل وچه له بانده ی ځخه یو غږ د ده غوږ وته ورسیدو . چه غوږ ئی ونیولو وائی وریدلو چه ورو ئی (محبـد) له خپلی بنځی سره په زغر ده سره سختی خبری کوی او یه یوه کورنی موضوع کښی هغی ته سرزنښت ورکوی .

داموضوع کومه اویه خبره نه وه . یوه معمولی خبره وه چه ښځه اومیړه یه هغه کښی سره نښتی و . دا رازی لنډی جگړی هر کله دښځو او دمیړو په منځ کښی پیښیږی .

یه رښتیاسره دارازی جگړی کټ مټ دهغی مالگی یا ترشی یه منزله دی چه یه کټو کښی ئی اچوی یائی د کوندری یه خوا کښی ایږدی ترڅو چه ذائقی ته ئی تغیر ورکړی او اشتهائی زیاته کاندی .

ولی چه یو رازی ژوندون اگر که یه هوسائی او عاشقی سره هم تیریږی سړی ژوبله وی . صاف او شفاف آسمان اگر که ښه ښکاری ، مگر که ډیر وخت همغسی پاتی شی ، دخپگان سبب گرزی دښځو او دمیړو منی یه ژوندون کښی مختصری جگړی داسی دی لکه یه آسمان کښی وریځ چه کله کله د آسمان او لمر او دستوریو مخ پټوی ، او وروسته له هغه ځنی دلمر او سپوږمی او ستوریو

ketabton.com - The Digital Library



زړه وړونکی او ځلا ندی شعلی په تاك شنه او ر و ښا نه آ سما ن کښی ډیری ښی ښکاریزی ، او زړه وړونوته سرور او ستر گوته نور ښښی ، همدا رازی دوستی او محبت هم وروسته له کمکی جگړوڅخه لاتو دیزی او زیات خوږیزی .

خیر له دی برخی څخه تیر یږو :

د (حمید) تر ډیر و ورځو پوری غوږ ونه بریدل او د دوی طبیعتو او خو یو ته به متوجه و مګر د خپل ورور او ورینداری په منځ کښی یې پرته له مینی او محبت او خوږو وینا ؤ څخه بل هیڅ شی نه آوریده. مګر دا ا ا ځلی دی چه د دوی په منځ کښی جګړه پېښه شوی ده او ( حبیبی ) ته در ګرده ری .

هر کله چه ( حمید ) د ( حبیبی ) دا سر زنښت و او ریده چه پله پسی دده ور ور ځغی ته ور کو لو . نو یو عجیب احسا س او ز ړ ه خو ږ ی دد ته د ( حبیبی ) په نسبت سره پیدا شو .

یو ناڅاپه به دده په زړه کښی دا خبره تیره شوه چه له خپله کوره و تلی زرتر زره دی جګړی ته خاتمه ورکړی . . . نو له خپله ځایه پاڅېد لو . . . . بیا بیرته یخپل ځای کیناستلو . . . او فکر ئی کو لو . . .

یخوامووویل چه ( حمید ) دخپل مشر ورور (مجید ) ډیر تعظیم او تکریم کاوه او ددده په زړه کښی ډیر خوږوه . نو اوس به و ګورو چه په د ی شیبه کښی د ی د خپلی خو نی په ګوښه کښی یو اځی ناست دی په څه فکر و کښی ډوب تللی دی ؟ ! . . .

د ده دزړه په منځ کښی یو پټ احساس او یوی نا معلومی مینی ځای نیولی و .

ښائی چه یخپله دی به هم له دی احساسه تر او سه پوری خبر نه و . ا و که کله کله به ئی دهغی ښښی هم یخپل وجود کښی لید لی ځان به ئی په هغه باندی نه پوهو لو ا و د هغی په مخ کښی به ئی پرده ا چو له .

ketabton.com - The Digital Library



دایت احساس څه شی و ؟

دی په دی باندی نه پوهیدو ! یا ګی نه غوښته چه ور باندی و پو هیږ ی ! یا ګی نشو ای کولای چه پری و پوهیږی !.

دا مهم او یت احساس چه موږ هم تراوسه پوری د هغه په کیفیت باندی خبر نه یو دعشق اود اضطراب ځني یوه مخلوطه وه.

دعشق اوداضطراب په معنی باندی پدی ځای کښی و نه پوهیدو ؟

عشق دځیل دهغه مشر وروږ په نسبت چه پد ه باندی ګی ډیرحقونه لرلو اودده په حق کښی دیوه مهربان پلار په ځای واودده دژوندون ګرد لوازم اوضروریات ګی برابرولو .

اوپو داسی وروګی و چه له خیلی ګټی سره ګی دده د سعادت، اود هوسائی ګرد لوازم مهیا کړی و نوځرنګه به وښی چه د پوهسی ورور په نسبت به عشق ،او مینه نه لری ؟ . . .

دابرخه تر پوحده پوری ډیره ښه ښکاره ، او ر وښانه شواه . نود اضطراب په نسبت څه وائی چه دده دپریشانی سبب څه شی و ؟ . . .

تیاره تکی همدادی چه تراوسه نه ( حمید ) ته ځرګند شوی دی ، اونه موږ ور باندی پوهیږو ! . . .

( حمید ) له خوورځی پخوا په دی موضوع کښی خبر شوی و چه ( حبیبه ) له خالصی دوستی څخه پرته بل یو نږی احساس هم لری .

په اوله ورځ کښی چه دی خبری ته ګی فهم وشو،نو په ځان وریږدیده، اوډیر زیات پریشان شو.

دوهمه ورځ کښی ګی د خو را خپګان ،او پریشانی له لاسه د خپلی خونی ور،له دننه خوا ځنځیر کړلو ، او د خونی په یوه ګوښه کښی کیناستلو ، اوډیر زیات نی وژړلو .

دریمه ورځ چه ( حبیبه ) دده خونی ته ورننوتله ، او دواړه سره مخامخ شول نو (حمید )

... لاسه پاشېدلی په قهر، او کنټرولولو سره ګلی هغه له خپله کوره وایستله، او ورګی بیا خپل ځان پسې مخنځیر کړلو.

څلورمه ورځ ګېډه له کوره ووت، او ترتیر ماښام پوری بیرته خپل ځای ته رانه غی.

پنځمه ورځ د سردردی په بهانه په خپل چپرکټ باندې وغزېداو، او په بېرستن کښې ئې ځان پټ کړلو مګر (حبیبه) د ده له خواښه نه اړی کېدله، او تل به ئې د مرض د کیفیت پوښتنه‌تری کوله، او راز راز دواوی به ئې ورته راوړلی، او دده به خو نه کښې به ئې په زور ور توېولی.

شپږمه ورځ د (حمید) په خیال کښې دا خبره ټینګه شوه چه د ی پخپل ځان باندې غالب شوی دی، او دده دزړه قبضه دده په لاس کښې ده، مګر لږ څه شېبه ور وسته بیا پرېشانی غالبه ور باندې وکړله.

په دغه ورځ یا دده د ورور، او د ورېنداری په منځ کښې څه جګړه پېښه شوه، او دی چه ددی جګړی په وخت کښې دخپلی خونی په کونج کښې ناست و په ژور فکر کښې پرېوتلی، او وروسته له هغه ئې رغوښتلو چه د باندې ووزی دخپل ورور په مقابل کښې د (حبیبی) طرفداری، او حمایت وکړی. په دی خیال کښې ئې پوښو پلونه هم دوره په اوری واخیستل، مګر وجود ئې ناڅاپه وریږدېده، او د رېږدېدلو په واسطه وچ کلک پخپل ځای کښې پاتې شو.

دده په زړه کښې دا خبره تېره شوه چه هر کله دده ورور (حبیبی) غوندی پوی ښځګلی او پیمخی ښځې سره هره ورځ جنګ وی، نو دی ښه سړی نه دی، په همدی واسطه دده په زړه کښې د (مجید) په نسبت لږ څه تنفر هم پیدا شو.

دا بد، او شوم احساس لمړی ځلی دی چه د (حمید) په زړه کښې دخپل ورور په نسبت وګرزېدو مګر د خوښی ځای دی چه دا بد احساس زر دهغه له زړه څخه ووت، او بیالی چه لږ

ketabton.com - The Digital Library



څه اثر به ئې پاتې وي . مګر هغه اثر دومره لږ ، او ناچيزه وچه له هغه څخه هيڅ ويره او انديښنه نه کيده .

بهر تقدير سره د ( حميد ) بيا خيال وکړ لو چه بايده دی له کوره ووځی که د ( حبيبې ) مرسته ونه کوی نو د خپل ورور مرسته خو به وکړی .

چه څو نګه دا خيال دده په زړه کښې تير شو ، زړه ئې په غږ ځنګ شو ، او په ټول بدن کښې ئې دګوزڼ وهلې په شانې ريږدل پيداشو . لنډه دا چه ( حميد ) له ډير فکر وهلو ، او دريدلو څخه آخر په تنګ شو ، او له کوره ووت مګر دده له وتلو سره جفت جګړه هم پای ته رسيدلې وه .

دده ورور له کوره بهر و وت ، او ( حبيبه ) له ژړا څخه خوشحوش دده په خونه کښې ننو ته .

هغه ( حبيبه ) چه چپ له دغې ورځې څخه بهره ورځ د ( حميد ) په خونه کښې په خندا ، او اکاړو سره ننوتله ، او هيڅ کله به ددې وچولې ترېو ، او خوله به ګې پټه نه وه نن او ل ځلې دی چه په ژړا سره ننوتله ، او دده دوروره لاسه ئې پټې کولې ، او اوښکې به ئې له سترګو څخه تو يولې .

( حميد ) چه دا وضعيت ته وکتلو نو ځايه ځکه ، او آسمان وربانده ور خيدلو ، او بې اختياره له خپل ځای څخه پا څيدلې ، ددی په دلاسا کولو بانډی ئې پيل وکړ لو ، او سرئې چه دده دچيرکټ په باز و بانډی ايښي و پورته کړ او .

په عين همدې وخت کښې دده په وجود کښې يو سخت ريږدل ، او ارتعاش پيدا شو ، او يوی مرموزې قوې به دی د ( حبيبې ) په لورې کش کاوه .

همغه قوه چه له ډيرې مودې څخه دده دروح په تيه تياره کښې پټه وه چه اوس ناڅاپه څرګنده شوې ده .

نورئي و نشوی کولای چه مقاومت وکړی . خپل لاسونه ئې ددی له مخ ، او سرخپه گرزول . لکه چه پوسور انکار دده په زړه کښې پل دی ، اختیار ئې له لاسه و ووت او خپل سرئې شکته کړی په ریږد بدااو اضطراب سره ئې مخې کړاه .

او پخپل ځان باندی پوه نشو . یوه سخته لړزه اورعشه دده په اندامو کښې اویدلی وه .

په همدغه حال کښې ئې احساس وکړلو چه ( حبیبی ) خپل ځان له ده څخه په هغه خوا کش کړلواوحال داوچه دا نه ده پوهیدلی . ځکه چه دهغی په وجود کښې هم د ( حمید ) له لاس ورودلو څخه همداسې یوه لړزه او ارتعاش پیدا شوی و . او له دی جهته بی اختیاره دتشنج په حالت کښې له خپل ځایه هغی خواته غورزیدلی و .

دوه درې هاك یك اوحیران او ساختلی سره ناست و . ( حمید ) یوه خوا او ( حبیبه ) بله خوا په دوه قدمه لری فاصله کښې ولاړ او هغه ناسته وه .

داچوپیدا او حیرانیا تر ډیره وخته پوری و زغملیدله . ترڅو چه ( حبیبه ) له خپل ځایه پاڅیده اود ورو به لوری روانه شوله . او ( حمید ) له خپل ځایه هیڅ ونه خوزیده و اوهیڅ ئې ونه ویل .

یو ساعت وروسته که څوك د ( حمید ) دخولې له خوا څخه تیریدی نو دده د زړه غږ به ئې هرو مرو آوریدی .

دانو ولی زړل؟ اوعلت ئې څه شي و ؟



ketabton.com - The Digital Library



## دووم ټوك

دشپې له مخې ( مجید ) له نورو شپو څخه په وخت کورته ورسیدو . او برابر د خپل ورور خونې ته ننووت ( حبیبه ) په خپله خونه کښې په یو کار باندې بخته وه . د وی دواړو ورو نو تر ډیره وخته پورې پخپل منځ کښې خبرې او اترې سره کولې .

( مجید ) دهغې جګړې په نسبت ډیرخپه ، او پښیمانه و .

په پای کښې دواړه ورونه په اتفاق سره د ( حبیبه ) د خونې خواته ور غلل ، ورتړلی و . دړډاغږئې دخونې له منځه آوریدو .

همدا چه (حبیبه ) دخپل دمیړه اولیوره په ور تګ باندې وپوهیدله ، په تلوار سره ئې دروازه پرانیتله ، اوښکې ئې له خپلو سترګو څخه پاکې کړې ، او خپل اضطراب ، اوپریشانی ئې هم په خو شحالی سره بدله کړه ، او د ( مجید ) ترڅنګه داسې کیناستله لکه چه هیڅ پوښی ددوی په منځ کښې نه وی پیښ شوی .

په دې شپه هم لکه نورې شپې دې کچنی کورنی په ګډه سره ډوډی وخوړله او ، چای ئې وڅکولو ، اونمونځ ئې اداکړلو ، او ښې ښې خبرې ، اومجلسونه ئې سره وکول . مګر دتیارې پوښ عامل ددوی په منځ کښې دائمی ورځی ، اوشپې ترتهدیدلاندې نیولې وی .

اصلی خبره موپریښوده ، اوبه بله خوالاړو :

ومولیدل چه ( مجید ) په خپل هغه کار چه ( حبیبه ) غوندې یوې ښکلې تابعداری باوفا ښځې سره ئې جنګ کړی و ، سخت پښیما نه و ، او له همدې جهته ئې ( حبیبه ) ته ډیره دلاسا ئې ورکړله ، اوعذرئې ورځنې وغوښتلو نو نه دی سببه ( حبیبه ) هم له زړه دده سره پخلاشوه ، او ( مجید ) ددې خپلې بدخوئې دجبران دپاره یوه جوړه ډیراعلی بوټان ( حبیبه ) ته

ketabton.com - The Digital Library



له بازاره په گران قیمت سره واخیستلو ، چه دهغو بوټانو له پښو کولو څخه وروسته (حبیبه) په دې اندازې سره خوشحاله شوه ، چه گڼه هیڅ کله نه وژړلي ، او هیڅکله نه وه خپه شوې او س راشه چه وگورو چه په دې ورځو کښې به (حمید) باندي څه تیریږي ؟

(حمید) خوار له هغې ورځې څخه راپیسې یو نوی شی پخپل وجود کښې لیده ، او یو بل ژور احساس دده په زړه کښې د (حبیبه) په نسبت پیداشوی و ، چه دی دهغه له نوم څخه خبر نه و .

فقط دومره پوهیده چه د (حبیبه) د نژدې کیدلو په وخت ، او د (حبیبه) دغږ د آوریدلو په ساعت کښې ، او د (حبیبه) په خیال کښې راتلو څخني ، بې اندازې نشاط ، او محظوظیت ، او خوشحالي ورته پیښیږي ، او لدې شیانو څخني دده په زړه کښې غورځنگ ، او په روح کښې ئې د آلوتلو علامې پیدا کیږي .

هر کله چه هغه له دې څخه زیات بل شی پخپل وجود کښې نه لیدلو ، او هم نه پوهید و چه څه وکړي ؟ نو چوپ به و .

ورو ورو د اسکوت ، او چوپیدائې په حیرت ، او حیرانتیا باندې بدله شوه .

وروسته له هغه به ډیرې ورځې د خپلې خونې په یوه کنج کښې گوښې ناست و ، او ترې ترې به ئې یو لورې ، او بل لورې ته کتل .

پـ دو مېنیو ورځو کښې به (حمید) له دې خپل حالت څخني په تعجب کښې وه ، او ترا به ئې ورڅني خوړاه . ولې په تدریج سره ئې داترا خوړل ، او تعجب هم ورك شو ، او هر چیرې به لکه یوبت غوندې ورچ کلك ناست ، او . تیه تیه به ئې یو خواته کتل .

اخلوه داچه په دې روحي بحران باندې یوه هفته مبتلا و .

یوه هفته تیره شوه ، دده د روحي بحران دوره تمامه شوه ، او هغه پښ او ر چه پرومبی شعله ئې او حته شوې وه دمېلـ زیاتیدو ، او تودښت ئې ساعت په ساعت ډیر یدو .

ketabton.com - The Digital Library



نو اوس یوه شو چه دی عاشق شوی دی ، او په یوی داسی اوښی بلا اخته شوی دی چه هر سړئی غم دی، او په داسی یوه تیه تیاره کښی پروت دی چه « پاڅئی تری ورك دی » او یاد پښتانه دمتل سره برابر داسی یوځای کښی ولاړ دی چه « دی خوانه ئی ګرنګ او هغی خوانه ئی پرانګ دی . که دی دخپلی عاشقی درد دوا کوی بر سبره پردی چه د دنیا شرمندګی او رسوائی او دعقبی باز خواست ورته پښیدونکی دی ګویا دی له خپل مهربان ، او نیاغلی مشر وررور سره ( چه کټ مټ دده دپلار په منزله دی ) یوخورا لوی خیانت هم کوی ، او که دی فکر، او تصور پسی بالکل ونه ګرزی په زړه کښی ئی د (حبیبه) دعشق داسی کاری غشی لګیدلی دی چه دهغه ایستل فقط د ( حبیبه) دناز کی ګوتی کار دی ، او دهغه پرهار علاج فقط د(حبیبه ) وصال دی ، او بس .

کوم وخت به چه (حمید) د خپل وررور دشفقت ، او دمرحمت ، او د پالنی ، اودمهربانی مراتب پخپل زړه کښی ګرزول، اوچه بیا به ئی دخپلی عاشقی ددی نوی درد تصور کاوه نو دنیا به ور باندی ګرده تاویده ، او خرخیده ، او وینتان به ئی زیګه شول او ځګ به دریدل ، اومصمم کیده به چه بایده دی داچتی فکر ، او داشیطانی حرکت چه دده دمشر وررور په نسبت خورا درونه خیانت دی هرو مرو پریږدی .

او هرځله ئی چه د (حبیبه ) ملاحت او لطافت، او حسن، او کرشمی، او دهغی عشق ، او محبت په تصور کښی ورتلو، نولیده به ئی چه له دی ځنی هم غیده نشته نو زار زار به ئی ژړل او غټی غټی اوښکی به ئی له سترګو څخه بهیدلی ، او ویل به ئی چه خدایا اخه بلا دی را باندی اوروله ، اوڅه سخت تندردی را باندی غرزولی دی .

خدایا استا دخپل حبیب په لحاظ، او خاطر سره یازما زړه د (حبیبه ) له عشق، او مینی

ketabton.com - The Digital Library



څخه خلاص کړي، یا زما ساه را څخه واخلي، او په شرموي مه شرموي، او د بیاغلي ( مجید خان ) په مقابل کښې مې خیانت کاره، او متجاوز مه ګرزوي .

سره له دا سې راز نارو او سوزو د (حبیبه) محبت، او عشق دده باندې لازیاتیده، او ددهغې د مینې لمبه دده په ګرد وجود کښې بلیده، او تل به ئې سترګې دوره په لوري ختلې وې چه دیوې خوا، او بلې خوا تیریده او په وخت کښې ئې تل وینې، او غوږونه به ئې ددې دغږ داوریدو دپاره ټیټ و، او خپلې سوکې به ئې رابنکودلې چه ممکنه ده دهغې خوشبوئي ئې تر سوګو شي، او ډیر ځلې به دی په ( حبیبه ) پسې همغسې زغاست لکه چه ( حبیبه ) پخوا په دد پسې تلله او راتلله، او خواه مخواه به ئې کومه موضوع پیدا کړي هغې سره به ئې خبرې او توفي کولې .

او په عین هغه حال کښې چه دده حرکات به له حیره، او کله ورڅخه متجاوز ښیدو ته نږدې کیدل، زړ تر زړه به ئې د(مجید) خبره په مخ کښې د ... او له لاس و پښو لخنې به لري کیدلو د وږور و لي وظیفې به دحال په ژبه ورته ویل ... ی (حمیده) داچې خیالونه چه ددا اخ عقبې دخرابوي، او تازما خوا خوږي ورور یمخ کښې شرموي، له سره څخه و باسه! زما دخوره په نسبت. چه تاسره مې ډیرې ښې ګټنې کړیدي، تل امین او وفادار اوسه .

که رښتیا اوري! (حمید) هم همدا سې غوښته، او همدا به ئې تل په زړه کښې و. مګر خوارځه وکړي، چه دده دزړه اختیار دده په لاس کښې نه وه. دده عنان او واک دبل چا په لاس کښې و او بلا اراده په دا خطرناکه کنده کښې ( چه پای ئې معلوم نه وه ) لویده .

دده میل، او خواهش همدا و چه باید ودریږي، او په دا بې سر او سامان چول او بیابان کښې نه ځي، مګر بل یو لوی قوت چه عشق ئې بولي دی به ئې د شاله اوري تېل واهه، چه هله! زر که لاړ شه! دریږه مه!

ketabton.com - The Digital Library

# ۳۳

## اتم ټوک

( حبیبه ) هم د ( حمید ) په درد باندې اخته وه . هغې هم له دې غم انګیزه عاطفې ځنې ( چه د « عشق » په نامه سره یادېږي ) څه برخه لرله ، مګر ذاتي عفت ، او فطري عصمت ، او دمېړه امانت ، او دمېړمنې توب وفا دارۍ ، ددې په مخ کښې یو لوی دېوال او دټینګ سد په شان ولاړو ، او د خپل زړه خبرې ئې نشوی ښکاره کولای . نو پخپل زړه کښې به ئې په پټه سره غم کولو ، او رنځ به ئې ایستلو ، او په خوله به ئې هیڅ نه ویلو مګر داد پښتو دلنډۍ مفهوم به ئې تل په زړه کښې ګرزولو .

پټ مین یم پټ به ژاړمه

پټې به او ښکې ګریوانه ته تویومه

د ( حمید ) خونې ته به اوس ډېره لږ ورتله ، مګر تل به ئې خپلې کړکۍ څخه ، د ده خونې ته کتل ، او دده ګرد حرکات او سکنات به ئې لکه یوماهر عکاس د غور په سترګو سره لیدل ، او دهغو عکس به ئې پخپل زړه کښې ثبتاوه چه دنه لیدلو په وخت کښې له هغو ځنې استفاده وکوي .

د ( حبیبه ) په زړه کښې به وه چه خپل کار پسې لاړه شي مګر کار به ئې له لاسه نه وپوره . غوښتل به ئې چه له خپلې خونې ځنې بهرته لاړه شي ، مګر ددې په پښو کښې به قوت نه و چه پاڅېږي .

( حبیبه ) هم په دوه مختلفو حسو کښې لویدلې وه ، له یوه اوري « عشق » او له بل اوري « وظیفه » ددې په زړه کښې سره په جنګ و ، او هریو به خپل قوت او قدرت ښندلو تر څو چه بري مونده کاندې او ( حبیبه ) هغې خواته ورکش کړي . داخواره کې په دې منځ منځ کښې سرګردانه او حیرانه پاتې وه ، او هیڅ نه پوهېده چه خپل لیونی زړګی سره څه وکړي ؟ .

که کوم وخت به ( حمید ) له کوره بهر وتلی و ، نو ( حبیبه ) به دانګړ اوګې دروازې ته

ketabton.com - The Digital Library



سترگی نیولی منتظره په ناسته وه ، چه ( حمید ) به څه وخت بیرته راځی، همدا چه (حمید ) بهر نووت (حبیبه ) به دهغه له مخ څخه تبتیدلی په کور کښ به پټیده اوهلته به ئی سر په دوا دو لاسو کښ نیولی زار زار به ئی ژړل .

دشپی له خوا به چه دوی گرد دهودی اوچتی لپاره سره تولیدل (حبیبه) به په ډیر مشکل سره خپل ځان اداره کاوه ، اوتر خپل واك لاندی به ئی ساته اوپه هره وسیله سره چه کیده ځان به ئی آرام ښکاراوه .د(حمید) حال هم دگډولون په وخت کښ کټ مټ د(حبیبه) په شان و.

(مجید) له یوی میاشتی څخه په ئیسی تل گوری چه دښځی رنگ ئی ورځ په ورځ تغیر مومی اومخ ئی تك زیړ آو ښتی دی او همداسی ئی دوړور وضعیت هم ورځ په ورځ ورانیږی مگر په سر باندی ئی نه پوهیدلو چه ( حمید ) باندی څه شویدی ؟ چه ورځ په ورځ ډنگریږی او ضعف او نقاهت ئی آخری درجی ته رسیدلی دی ؟ او همداسی حیران و ؟ چه (حبیبه) ولی غمجنه ښکاری ؟ اودمخ گل ئی مړاوی بریښی ؟ اوتل ئی دځوانی په بهار کښ دخزان اثر ښکاریږی ؟ . .

په ریښتیا سره دالکه لمرغوندی ښکاره وه چه هم ( حبیبه ) په دی ورستنیو څو هفتو کښ ډیره غمجنه اوپریشانه ده اوهم ( حمید ) ورځ په ورځ خرابیږی .

(مجید) چه خپل وروړسره ډیره مینه لرله اوهم ئی ښځه وربا ندی ډیره گرانه وه ددی حال اوتغیراتو له لیدلو څخه ډیرحیران اوپریشان و . دده په خیال کښ داسی راتله چه د (حمید) دپریشانی سبب خو به همداوی چه امتحان ئی نژدی دی ،اودی دهغه له نتیجی څخه ویریږی . مگر د (حبیبه ) دخپگان په علت باندی هیڅ نه پوهیده ،اوپه تعجب کښ پروت و،اوهر څومره ئی چه په دی موضوع کښ فکر واهه په درك باندی ئی نه پوهیده ـ د څوورځو له فکرو هلو ځلو څخه وروسته دائی په چرت کښ راغله چه ښا ئی (حبیبه ) به د کور له ډیر وکیناستلو څخه په تنگ شوی وی ؟ .

وروورودا فکر د(مجید ) په ماغزوکښې فوت ونیولو ولې چه بل هیڅ یو دلیل د(حبیبه ) دپریشانۍ لپاره دده په زړه کښې نه ورتلو او په عین حال کښې دې خبرې ته ئې ډیره تلوسه وه چه هر ومرو ښائي د (حبیبه ) د دې درد تشخیص په ښه شان سره وکړي

هغه وخت چه داوهامو سخته سیلۍ ، او دبدګمانۍ طوفان دچا روح پخپلو منګولو کښې ونیسي ، له هر لوري پریشانه فکرونه په هغه باندې یرغل کوي اوهجوم راوړي ، اوهغه خپل خوراسیك خیالات ، کټ مټ دحقیقت په صورت سره وینې . ترڅو چه د داسې وهمي اوچتي فکر و په سبب سرد ، له روحي پریشانۍ ځنې خلاصي پیدا کاندي ، نوله دې جهته پوهانو ویلي دي چه انساني روح ته هیڅ یو آفت له تردید اوشك څخه زیات ضرر رسوونکی نه دی ، او ښائي چه انسانان تل خپل ځانونه له شك اوتردید ځنې ژغوري .

( مجید ) هم په دې موضوع کښې دشك اوتردید له لاسه په ځان رسیدلی و . او آخرئې داخبره په زړه کښیناستله چه ( حبیبه ) فقط د کورد کارو اود ډیري ناستې دلاسه ، دسل او ددق په رنځوري سره اخته شوې ده . نوله دې جهته ددې دعلاج په تدبیر کښې شو .

له بوی خوا د( حبیبی) کورنی کارونه دو مره ډیر و ، چه یوه شیبه هم له صبانه تر ماښامه پوري وزګاره نه وه ، اوله بل لوري ( مجید ) هم نه شو کولای چه خپله ښځه یوازې بې له کوم محرم څخه پریږدي چه چېری لاړه شي .

دامشکلات زر له منځه ورك شول . ولې چه د ( مجید ) په زړه کښې داخبره هم تېرنګه شوې چه ( حمید ) به هم دامتحان له ډاره ځنې خپه وي ؟ اوشپه او ورځ ئې د خپلو سبقو په تکرارولو اوګردانولو سره خپل ماغزه ګرزولي ؟ او داضعف اوناتواني هم له ډیري مطالعې اودزیار ویستلو په سبب ورپېښه شوې ده ؟ نوله دې جهته ( حمید ) ته هم ګرزیدا اوتفریح په کار ده .

ketabton.com - The Digital Library



په دې خبره بانده خبر نه و ، او نه پوهېده چه کشر ورور ئې (حمید) له ډېرو ورځو راهیسې له لیکلو ، او لوستلو ، او سبق ویلو څخه بیزار شوی دی ، او دا ضعف ، او ناتوانی او پریشانی له بل لوری ورته پېښه شوې ده .

خیر ! (مجید) داسې یو قصد ، او اراده وکړه چه له دې په وروسته به د صباځی او بېګائی له مخې (حبیبه) دده له کچنی ورور (حمید) سره لږ څه بهرته درومي ، او وروسته له ل‍ نه ګردش او تفریحه به دواړه بېرته سره رادرومي .

ګویا (مجید) پخپل خیال کښې په یوه غیښي دوی ښې ویښتلی یعنې غوښتل ئې چه په دې وسیلې سره له یو خوا (حبیبه) له پریشانی او ګوښې تو به څخه خلاصه کاندي ، او له بل لوري ئې په زړه کښې خیال ورورته هم (چه په خپلو سبقو کښې له ډېر و زیار ویستلو څخه ناسکال زهن شوئ دی) څه تفریح ، او فهم غلطي وکړي ، او دا کار دده په نظر ډېر ښه ښکارېده .

یوه شپه په داسې حال کښې چه (حمید) پخپل کوټ کښې په ظاهر سره په مطالعه کښې مشغول و یعنې کتاب ئې پخپل مخ کښې پرانیستلی ، او ورته کتل ئې ، مګر فکر ئې لکه یو وحشي مرغه دکتاب له کوره یو څنی په تیښته ، او په یو بل عالم کښې الوتلو ، (مجید) ور باندې ننوتلی ورته ئې ویل :

زما جانه ! دومره زیاته مطالعه مه کوه ، چه روغتیاته دې ډېر نقصان لري ! وروسته له دې خبره لږ ساعت چوپ شوی ، او په چرت کښې تللی بیا په خبر و شوی (حمید) ته ئې وویل :

زما د سترګو تور ه ! یا څه نن شپه د سینما سیل ته لاړ شو ، چه یاد د غلط شي ! «

ا ګر څه (حمید) هیڅ نه غو ښتلو چه له کوره بهر شي مګر دلږ څه فکر وهلو څخه په وروسته ، د خپل دو ر ورله دې خبرې څخه خوښ شو ، او په زړه کښې ئې دا خبره تېره شوه ، چه دی مشغولتیاته مې تر او سه پورې پام نه وه شوی ، ولې زه به تل پخوا له دینه چه د (حبیبه) د مینې لمبې زما په وجود کښې نه وې بلې شوې ، د سبق په ويلو

ketabton.com - The Digital Library



به بخت وم ، او فقط خوځلي سينماته تللي يم ، او اوس دادي چه د (حبيبه) دعشق په اورکښ سوزم ، راشه چه نن شپه سينماته لاړشم ، که خداي کړي وي گوندي چه هلته مي لږ خه پام غلط شي .

نوزر پاخيده ،او دريشي ئي واغو ستله ، او له خپلي خو ني ځني بهر شو . که گو ري چه (حبيبه) هم خپل کالي آغوستي اوځان ئي سنبال کړي، دانگړيه مخ کښ بهر وتلوته تياردده .

(حميد) ددي منظري له کتلو څخه نږدي وچه بيهوش شوي په ځمکه ولوېږي ، مگر په ډير مشکل سره ئي ځان و نيولو ، مگر بيا هم دده په وجود باندي لړزش ښکاره و ، او غابنونه بهئي يو په بل سره لگيدل ،او لينگيو کښ ئي دريږديدا اثرمعلوميده .

په عين همدي وخت کښ چه (حبيبه ـ او ـ حميد) دواړه په حويلي کښ سره يوځاي کيدلو (مجيد) هم ددوي تر شا رسيدلي (حميد) ئي مخاطب وگر زاوه چه « زو يه ! (حبيبه) هم ځان سره سينماته بوزه ! .

دي لنډي گنډي جملي په (حميد) باندي خوزاعجيبه تأثير ونه وغورځول ، او دي ددي خبري له آوريدو ځني په داسي يو حالت کښ واويدولکه چه داورعتي غتي سکرو تي دده په سر او ځگر کښ اويدلي وي.

بيا ځمکه ور باندي گر ده وڅر خيدله ، اوپه سرکښ ئي سخت دوران پيدا شو ، اوکه په ديوال باندي ئي تکيه نه وي کړي ، هيڅ لري نه وه چه لنکس ئي خوړلي،او لويدلي به و .

نا څاپه دده په زړه کښ داخبره تيره شوه چه بيا ئي زما وروربه زما له دي معاشقي ځني خبر شوي وي ، او اوس ئي زما درسوائي لپاره دانقشه روغه کړي وي .

زړه ئي غوښته چه يوه بي ترا چيغه ووهي ، او په ډيره زاري ، او خواري سره داحقيقت خپل خوا خوږي ورور ته (لکه چه دي) هغسي رنگه څرگند کاندي،او دخپلي ديگنا هي اوځان ژغورلو په نسبت دده په مخ کښ قسمونه وخوري،اوولوړي .

ketabton.com - The Digital Library



مگر پخوا الدی خخه چه دی خپله خوله وخوزوی (مجید) وډاندی شوی له جیبه ئی یو شل ر و پگیز نوټ و یستلی ، اوده ته ئی ورکړاو اویه یوه معمولی لهجه سره ئی ورته وویل چه « داهم واخله » .

ددی وضعیت ، اوخبری څخه فی الحال (حمید) وپوهیدو چه وروړئی لادده له عاشقی څخنی خبر نه دی.

سمدلاسه یوه بله لویه وسوسه ، او سودا ـ دده‌وروپیښه شوه ، اودغه داوه چه که د ی او ( حبیبه ) په دی تیه تیاره شپه کښی له دی ځایه عین تر سینماپوری لاړشی ، اویا په سینما کښی یوه موده سره یو ځای کښیني ، او بیا له هغه ځایه په نیمه شپه کښی سره بیرته را درومی مبادا چه له ده څخنی چپ له شریعت ، او انسانیت څخه کوم حرکت صا در شی اوځان ذد نیا او آخرت په شرمو باندی وشرموی !

هغه غوښتل چه دخپل وروړه نسبت وفادار اوسی او دده حرمت ته ترخو ئی چه عقل او فکر په سر کښی وی ګوتی ورنه وړی ، مګرپخپل یاغی زړګی باندی ئی چندانی ډاډینه نه لرله .

هو ! دی پوهیده چه انسانی روح دعشق اودبهیمی قوی په مخ کښی ډیر کمزوری او ناتوانه دی . اود هوسو او خواهشو په مقابل کښی کت مټ دیوه میاشی په شان د سختی سیلی په مخ کښی دی .

اوداخبره ورته معلومه وه چه هوس لرونکی زړه و حشی غرځی غوندی له اسلامی اوامرو او اخلاقی تعلیماتو څخنی د رذ ائلو ورشوته تښتی .

ketabton.com - The Digital Library



نو له دې سببه د (حمید) زړه نه و، چه (حبیبه) سره یوځای له کوره ووزي، ځکه چه پخپل ځان باندی ویریده، چه واك ئې له لاسه بهرنشي، او دامانت داری او دوفاداری له حدوده، بهربل کینښ دی.

همدا و هغه لاس ئې چه دنوټ د ا خیستاو لپاره غز و لی و، ور بیرته ئې کړ لو، او په لړزیدلی غږ سره ئې ورته وویل: «نه! زه نه ځم!».

(مجید) ورته وویل: «نو کالی دولی واغوستل؟».

اگر که دا سوال ډیره یوه عادی او معمولی خبره وه، هر کله چه (حمید) خپل لاس او پښی په دی ځای کښی ورك کړی و، هرڅو مره ئې چه په خپل فکر او ماغزو باندی زور وا چو لو، چه دخپل دنه تګ لپاره کوم بهانه او پلمه جوړه کړی و ئې نشوی کولای، فقط دو مره ئې په زړه کښی تیره شوه، که په دی موضوع کښی څه زیاتی خبری وکړی، نه چه داپه خبره ئې ښکاره، یائې وروور ور باندی بد ګمان شی ناچاره ئې بیا لاس وروږد کړی نوټ ئې ورڅخه واخیست او له (حبیبه) سره یوځای له انګره څخه ووت.

(مجید) د کوڅې تر آخره پورې له دوی سره لاړ. او هلته ئې په ورو چه (حبیبه) یوه نشوه خپل ورورته وویل: «په داسی یوه لاره تر سینما پوری لاړشی چه په هغی لاری کښی دخلقو ګڼه او باړ کم وی، او تاسو په هوسائی سره لاړشی او راشی او دتګ په وخت کښی د تل (حبیبه) ته پام وی.»

دی خوارنه پوهیده چه هغه پخپل لاس وازده پیشوته وسپارله! یائې اوردباروتو تر خوا ولګولو!! اوږ نده شوی تیشه ئې پخپله پښه ووهله!!!

څه به وکړی شی د دنیا قانون همداسی چلیږی، او سړی دداسی کارونه په فلسفه باندی نه پوهیږی.

ketabton.com - The Digital Library



د خلقو عادت په دې باندې جاري دي چه له قضا او قدر ځنې شكايت وكړي او د بدبختي او مصيبت په وخت كښې له فلكه پيغې ولري مگر په دې باندې نه پوهيږي چه تر د خطر او مه انسانان خپلو ځانو ته پخپلو لاسو سره تاوه وي. او هره هغه بدبختي او مصيبت چه ترنجاته پېښيږي د هغه غفلت او د بي پروائي نتيجه گڼله شي چه پرون ئې كړي وه.

(حبيبه) او (حميد) دواړه سره يوځاى له كوڅو او بازارو ځنې تيريدل، او په توكو ټوكو كښې به چو به چو پتيا سره روان وو، او يوه هم له دوى څخه شو نه وي ته خو خو هركله چه له لوى بازار څخه چه هلته ډير از دحام و تيريدل، نو دواړه سره ودن شول تر څو چه يو بل سره غلط نشي.

(حميد) د (حبيبه) په نژديكت سره پخپل وجود كښې د اسې يو ارتعاش او اضطراب محسوساوه چه له نشاط او ډير خوند ځنې روغ شوى و.

د احساس چه مركب وله عشق او اضطراب، او له وېرې او تفكر څخه، (حميد) ته ئې دمد او جزر، يا قبض او بسط، يا خوف او رجا غوندې يو حالت بښلى و.

(حبيبه) ته به ئې چه كتل د عشق لمبې به ور باندې بليدلې.

د دنيا رسوائى او د آخرت د پوښتنې خيال به ئې چه كاوه، ويريده به، خپل وروړ ته به ئې چه فكر كاوه اضطراب به ئې زياتيده.

ketabton.com - The Digital Library



که په لږ پوهه دي بده مسئله کښې تحير کيده . نو له حده زيات ئې ډېر لټونه او خوارۍ ډېره ويره به ور ته پېښيده .

داګر د مختلفه احساسات سره غوټه شوي ، په ده باندې يو عجيبه حالت طاري شوی و چه له ليونيانو او شرابيانو سره ئې فرق نه کېدلو . لکه مست شويو او بيخوده انو غوندې په لاره تلو . خپل واک ئې په لاس کښې نه و خوځلې ئې له نورو تلو نکو سره ټکر وخوړلو يو ځلې نژدې و چه سخت په ځمکه باندې ولګېږي سر ، پاني اورميږ مات . شي بل ځلې ئې بيا يو سخت کنګس وخوړلو مګر آفرين دوي په (حبيبه) باندې چه مېړانه ئې وکوله ، اوږ رئې له لاسه ونيولو او ويري ئې نه ښو دلوچه ولوېږي ... او که چېرې په هغه سړك باندې چه ګرد په ډېر او پلنو پلنو تيزو باندې فرش شوی و ، لوېدلی وی ، مړ به و .

ددې حالت له کتلو ښځه ګردو تلو نکو ، دې مېړنۍ ښځې ته تحسين او آفرين وو يلو او دې سړي سره ئو لو کسانو همدردي کوله ، او ويل به ئې چه خداى د دې ښځې ته خير او برکت ور کړي چه دا سړی ئې له مرګه ځنې خلاص کړلو .

وروسته له دې ښځه چه د (حبيبه) ياسته لاسونه ده په وجود باندې ولګېدل ، او هغه له نژدې ښځه ددې په بوی باندې متحسس شو ، نو لږ څه په خود شو ، مګر ده په ګردو اعضا ، او پلو باندې داسې يوی برقي شرارې نفوذ ، او جريان لرلو چه له خوشحالی او نشاطه ځنې روغ شوی وه ، په بله ژبه ده په وجود کښې دارازې وضعيت پيدا شوی و لکه چه د نرې وږمې له تېرېدو ځخه ديو لوی تالاب په مخ کښې له اوبو ځنې کمکې کمکې څپې پيدا کېږي .

اوس نو بيا د ټينګيدا قوه ده په وجود کښې نه وه پاتې ، او واك ئې بياله لاسه وتلی و . ولې چه پياني پخپل زړه کښې هغه ده پوله بله مختلف احساس لېدلو چه عبارت دي له عشق

ketabton.com - The Digital Library



او مینې ، او وفادارۍ ، او وظیفې څخه ، اولږ څه شیبه تیره نه وه ، چه بیاهغه د واړو احساسات پخپلو منځو کښې په شخړه شول ، او دهغه په وجود باندې بیاهغې د مغلوبیت یوه منظره ښکاره شوه ، او بیائې اراده له لاسه ووتله ، او نه پوهیده چه دده په ماغزو باندې څه تندر ولوید و ، چه دی هیڅ نه پوهیږی ، چه څه وکړی ، او په کومه لار شی .

دی خوار په دی حالت کښې لکه هغه ناز که بوټه یا تنکی وچ شوا بوټه ، چه د سختې تندې سیلی د جریان په مقابل کښې پریوتلی وی ، واقع شوی و ، او بی واکه قد مونه به ئې آخیستل او ( حبیبه ) سره لکه یو بیهوش شوی سړی ځنګ په ځنګ تلو ، او د تلو نکو په ډله کښې به ئې ډیر ځلی له نورو خلقو سره ټکرونه خوړل او پرته له دی څخه چه کله به ئې ښی ، او کله به ئې لاس ، او کله به ئې ، اوږه او کله به ئې سر ، او ټټر ، او شایه ځینې شیانو باندی لګیدل او خوږیدل به ، او بل لاس ئې کلك د ( حبیبه ) په ناز کو منګلو کښې نیولی شوی و ، چه نه ئې پر یښود ه چه ولویږی ، نور په بل شی باندی هیڅ نه پوهید ه .

( حمید ) په دی وخت کښې په یو مرموز ، او مجهول وضعیت سره اخته دی . فکر ، او خیال ئې ډیر زیات خراب شوی دی . د محاکمې قوه ورنه ورکه ده . عقل ، او یو هنه تری هیره شوی ده . د ماضی ، او د حال ، او د مستقبل خبری ټولی دده په ماغزو کښې سره غونډې شوی د هغه په مخیله کښې ئې یو عجیبه معجون ، او مخلوط روغ کړی دی ، چه دی خوار د هغه په سر ، او بر باندی هیڅ نه پوهیږی ، او ورد ، او او دن تری ورك دی . فقط په دی تپه تیاره کښې ئې کله کله د خپلې د مور ( فاطمې ) او د خپل ورور د ( مجید ) ، او د خپلې د محبوبې ( حبیبه ) څهره لید له او په تیره د ( حبیبه ) مخ دده په نظر کښې داسې ښائسته بر یښید و ، چه په هغه باندی درنا یوه پرده ( لکه چه کله کله له سپوږ مۍ څخه چا پیر د نور شپول لیده شی ) اوید لی وی .

( حمید ) په داروحی شور ماشور او غوغا کښې په خپل وضعیت ، او موقعیت ، او تکلیف باندی هیڅ نه پوهیده ، تر دی چه په دی باندی هم نه و خبر چه دی ولی نن شپه له کوره

ketabton.com - The Digital Library



وتلی دی ؟ اودا غیر مترقبه لطف، او مرحمت د ( حبیبه ) له لوری دده په نسبت ولی ښندل کیږی ؟ اودی څرنګه له ( حبیبه ) سره ښنګ په ښنګ، اولاس په لاس روان دی ؟ .

د سړک په اړ ته کښی چه هلته د خلقو پیر و بار ډیر و، او رڼا ډیره لویده ( حبیبه ) ناچاره شوه چه ( حمید ) و دروی، او په سد ئی کاندی، نو وروسته له ډیره نیواو ښخه ئی ( حمید ) ته وویل : « زما عزیزه ! لږ ځان پیدا کړه چه چیری ونه لویږي، اوکوم ځای د یاخوږ نشی اوکه د طبیعت ډیروران وی . رازه چه د سینما له سیل ځنی تیرشوی بیرته کورته لاړشو » .

سبحان الله ! ددی خبری یوعجیبه اثر په ( حمید ) باندی ښکاره شو، او سملاسه ئی په خوب ویده عقل، او بوهنه له خوبه ځنی ویښه شو، او په زړه‌ور ستړ ګو سره ئی ؤلیده چه د ( حبیبه ) تر ښنګ لاس په لاس مخامخ ولاړدی . سملاسه دده د ورور غیره هم د ده په مخ کښی ودریده، او زړ ئی بیا له حیا، او وفاء اوداامانت له سببه سترګی پټی کړی . چه ( حبیبه ) سره سترګی به سترګی نشی ولی چه ( حمید ) ډیر یومسلمان، اوباحیا، او شرمناکه ځلمی و . مګر په دی ډول کښی د عشق او مینی له لاسه لویدلی و، نوځکه چه لږ څه پخود کیده د خجالت، او دشرمندګی احساس ئی په وجود کښی له ورانبکاریده .

ومو ویل چه مینی، او وظیفی د ده په روح کښی جنګ او شخړه سره اړله . یعنی د ( حبیبه ) مینه، او د ورورولی وظیفه .

هرکله چه مونږ غواړو چه زمونږ ښاغلی لوستونکی په دی موضوع باندی په ښه ډول و پوهیږی، نودلته یوتشبیه یا یو مثال راوړو، اوهغه دادی چه دلته د مینی مجسمه، عبارت ده د ( حبیبه ) له وجود څخه، او د وظیفی مقصد، مطلب دی د ( مجید ) له ذاته ځنی ګویا چه دادواړه کسان، دمیدم پر له پسی د ده په زړه کښی ښکار یدل، او بیا پټیدل .

د ( مجید ) خیره به دده ته په وظیفه پیژندلو سره توصیه کوله، او خپل محبتونه، او روزنی او شفقتونه به ئی ور په یاده ول، اوله ده څخه ئی د وفاداری اوداامانت شعاری انتظار لرلو

د (حبيبه) څېره چه د ده په نظر کښې ښکارېده په خپل عجيب قدرت سره به ئې نور هر شی د ده له ياده ويستل.

او په دې وخت کښې به (حميد) دغه تږي په شان وه چه په سخته ګرمۍ کښې د يو خوږ رايغو اوبو د کاريز د ويالې په غاړه ولاړ وي، او غواړي چه له هغو اوبو څخه لږ څه وڅکي او خپله تنده پرې ماته کړي. همدا چه او بو ته لاس وړاندې کړي سمد لاسه يو سړی راشي او ورئې نږدې چه اوبه وڅکي، يعنې په مجرد د دې چه (حميد) غوښته چه (حبيبه) ته ګوتې وروړاندې کړي، في الحال دده د ورور مخ ورپه يادېده.

بالآخره (حميد) مغلوب شه، او وظيفې د مينې په مقابل کښې مقاومت ونشو کولی، او د ځلمي توب احساساتو ګردنورشيان له منځه ورك کړل.

(حميد) اوس په ډېرو بدو خيالو باندې مشغول دی، او لکه هغه کسان چه د تبې په حالت کښې پرته پرته وېل کوي، دی هم په چټی چټی فکر وکښې پروت و، او هره ګړی به هر هرشی د ده په زړه کښې ګرزېدل، او دلاسه ئې نه وه پوره چه دا فضول خيالات له خپل ځانه لرې کړي.

په همدې خيالو او انديښنو کښې د وب د سينما دروازې ته ورسېدل، او (حميد) د (حبيبه) په ټو مبل او اشاره سره پياله خپل چرت ځني وتلی او ورئې د سينما داولی درجې د دوه ټکسونه آخستی او دواړه سره لاس په لاس د سينما په خونه ورننوتل.

## نهم ټوك

(حبیبه) موهیره کړه ، راځی اوس وګورو چه هغه څه حال لری ؟ ..

(حبیبه) هم د(حمید) په شانی په یو عجیبه کشمکش اخته وه .

مګر ښځی داسی یو خاصیت لری چه د خپلو احساساتو په پټولو کښی له نارینؤ څخه ډیری ښی دی ، او په دی کار کښی یوه خاصه ملکه لری . د ښځی ضمیر د سمندر بی پایانه سیند غوندی دی چه ډیر طوفانونه ، او موجونه پخپلو ژورو ځایو کښی ساتی او په مخ ئی هیڅ یو اثر هم نه ښکاریږی په میاشتو او کلونو کښی رنځ باسی او زحمت په ځان آخلی ، مګر خپلی شونډی هم نه خوځوی . په راز رازتکلیفو او ربړو باندی اخته وی ، ولی ددی له خولی څخه یو آه هم نه وزی .

(حبیبه) هم عاشقه شوی وه . رنځ به ئی ویسته ، زړه به ئی له غمو څخه ډك و ، مګر به خوله به ئی هیڅ نه ویلی ځکه چه داهم وظیفه شناسه وه او له وفاداری او امانت داری څخه ډکه وه .

ketabton.com - The Digital Library



يو لوی تفاوت او فرق ددی او د ( حمید ) په منځ کښې همداغه تو پیر وه چه د ښځو او نارینؤ په احساساتو کښې تل لیده شی ، او مونږ هم هغه ته پاس اشاره وکړله ، او تر او سه پورې پوهان ددی تفاوت او تو پیر په حقیقت باندې نه دی پوه شوی او که کومه ورځ هغه تیاره تمکی باندې رڼا واوبزی ، او داتوره وریځ د بشر د ژوندون له مخې ځنې ورکه شی . نو البته انسانان به پوقدم نورهم د سعادت او د نیکبختی په لوری دروسی .

اګر که په ړومبنیو ورځو کښې دپرېشانی نښې د (حبیبه) په خبرو کښې لیدلی کېدلی ، مګر دانښې به دومره نرۍ او ناڅېزه وی ، چه هیڅوك به د هغو په لید لو د هغې په هغه درد باندې چه ددی په زړه کښې پروت و ، نه پوهیدل . او چې له دی ځخه که به څوك د (حمید) حرکاتو ته ځیر کیده ، نه به پوهیده چه (حمید) د عشق لمبو وهلی دی .

هو! (حبیبه )هم د(حمید) په درد باندې اخته وه . او دهغه په شانی ئې خو شنال جه په خپل اسلامیت اوامانت اووفا باندې ټینګه ولاړه وی .

نه ! اوس ددی خبری ځنې مخ آړوو ، او سینما ته ګوروچه هلته څه پیښیږی .

هغه فلم چه په دی شپه ښودل کیده ، دعاشقی یو ډیر ښائسته فلم وه ... یوه ګاډیوان یوه ښائسته ښځه پخپلی ګاډی کښې کرا کړی وه اودسفر په منځ کښې ګاډیوا ن په دی ښځه باندې عاشق شوا وپه هغه هوټل کښې چه دوی دشپی له مخې ښکته شوی وو ، دآشنائی تارئی ور سره وغزاوه ...

( حمید ) ددی برخی په لید لو سره بالکل بې واك شوی و ، او دده احساسات داسی خوځیدلی و چه نژدی و هملته (حبیبه ) ته لاس ور واچوی او په غیږ کښې ئی و نیسی لکه چه په دی قصد سره له ځیل ځایه هم وخوځید او مګر په مجرد دیاځید لو دده فی الحاله څراغونه بل شول اودی هم بیرته کیناستو .

د بلې پردې ترشروع کېداو پورې ئې په ډېر دقت او په ځير ځير ( حبيبه ) ته کتل مونږ نه پوهېږو چه په دې وخت کښې ئې څه خيال پلو ونه پخول، او په کومو کومو چرتو کښې ډوب تللی و فقط دومره پوهېدی شو چه دځامې توب تر تأثير لاندې بالکل راغلی او نور گردشيان ئې هېر کړی و.....

په دوهمه پرده کښې دگاډيوان معاشرت له هغې ښځې سره شروع شو او په بله شپه گاډيوان دهغې ښځې په چپرکټ پرېوتلی ددوی د ناستې او دملاستې منظره ليدونکو ته ښکاره شوه او وروسته له هغه ځنې بيا خراغونه بل شول .

ښاغلی! لوستونکی پخپله تصور کولای شی چه ددې مناظرو دليدلو په وخت کښې به (حميد) په څه فکر کښې و ، او د(حبيبه) به څه احوال و. ځکه چه دواړه ځلميان، او دواړه عاشقان، او دواړه معشوقان واقع شوی و، او اوس هم خنگ په خنگ سره ناست دی، او داسې پېښې ته هم گوری.

(حميد) بيچاره دشيطان په لاس کښې ولوېده، او نور دمقاومت طاقت ورځنې ورك شو، او اوس د وظيفې ديېژندلو فکر دده په زړه کښې هيڅ نه راتلو، او غوښته ئې چه ژر تر ژره دسينما له خونې څخه ووزي . مگر دومره بی سده شوی و چه دخوزېدو طاقت ئې نه درلود ، نو لاعلاجه همغسې ناست پاتې شو . بيا خراغونه مړه شول، او دسينما پله پرده ښکاره شوه په دې پرده کښې دعشق او عاشقۍ بدې قصې ، او خرابې پېښې ځرگندې شولې ، او دگاډيوان دهغې بد بختۍ، او تباهی مناظر ونبودل شول چه هغه ته دشهوت پرستۍ، او عاشقۍ له لاسه ورپېښې شوی و .

هغه ښځه ئې له لاسه ووتله هلك ئې په بختۍ، او واوره کښې مړ شو، دی پخپله دربه در، خاوری په سر شو، او پای ئې معلوم نه شو، چه چېرته لاړ .

(حميد) په داسې چرتو کښې ډوب و ، چه دې برخې ته ئې هيڅ فکر هم نه و، او هيڅ پوی ته ئې پام نشو او که ددې قصې آخر ته ئې فکر شوی وی ، نو البته ددده دعشق تود والی به لږ يده، او ددې هولناکه ننگا مې په ليدلو سره به ئې سترگی غړيدلې وی مگر هيهات او افسوس !

ketabton.com - The Digital Library



د سینما نمائش ختم شو ، او گرد خلق بهرته ووتل. دوی هم له سینما څخه و و تل . خلق ډله ډله هر لوری ته تلل ، او دهر چا تلیو ارو چه زر کورته ورسیږی مگر دوی دواړه و تج کسالت یخپلو ځایو کښی ولاړ وو . مونږ نه پوهیږو چه دوی په څه فکر کښی وو ؟ او کومه اراده ئی در لو د له ؟

لکه چه (حمید) دخپلو عوا طفو په مقابل کښی مغلوب شوی وی ، اوغوښتی چه د خپل عشق اظهار (حبیبه) ته وکړی . مگر خجالت باسی . که رښتیا وویل شی هم ئی خجالت وبسته او هم ویرېده .

ولی چه د (حبیبه) له زړه څخه خبر نه وه ، او نه پوهیده چه هغه هم یخپل زړه کښی دمینی په دردبانلدی اخته ده ، او دده د عشق سکروټی دهغی په زړه کښی هم لویدلی دی .

دویری سبب ئی داوه که څه ووائی ، وروره ئی دده په حال باندی خبریږی ، اوبیا رازئی ښکاریږی ، اوبه شرمو باندی شرمیږی ، اوددی خبرئی له تصور څخه په ځان ریږ دیده .

له بل لوری ئی غوښتل چه د خپلی معشوقی په نظر کښی خپل ځان پو لوی ، او بافضیلته سری غوندی ښکاره کاندی . نو ددی جهاتو په سبب ئی نشوی کولی چه د خپل زړه پټه خبره ښکاره کړی ، او بر سیره په هغه زړه ئی نه غوښته چه دخپل دوروره نسبت سره خیانت وکړی ، او له گرد و څخه بدتره داخبره وه چه که دی دخپل عشق ، اودمینی اظهار وکړی ، ممکن وه چه بیا به د (حبیبه) تش کتل هم لاس نه ورکوی ، او بیا به ددی دعشق په لمبوکښی لاز یات سوزی .

لنډه داچه (حمید) به هغه حال کښی چه درنځوراتو په شان ځنگیده او له خپل حاله خبر نه و (حبیبه) سره ځنگ په ځنگ دکور په لوری روان شه .

کورته ورسیدل (مجید) ددوی په انتظار کښی ناست و . سمدستی وشپو لډعادت سره ئی شپه هم دهغوی دوه په گډه سره وخوړ له شوه ، اوچای وڅکل شو . وروسته له هغه څخه (حمید) خپلی خونی ته روان شو ، اوحال داو چه هغه په دغه شپه داسی بدحال درلود لکه چه په خوب کښی دکابوس عارضه وربېنه شوی وی .

ketabton.com - The Digital Library



نیمه‌شپه‌تیر وه‌چه‌د (حمید) چیغی پورته شوی ، ناری سوری به ئی وهلی (مجید) چه د (حمید) داشورا وماشور واوریده سمدلاسه د خپل خوب له ځایه پاځیدلی د (حمید) خونی ته ننووت او پښتنه‌ئی ورځنی وکوله چه « هلکه‌ولی ژاړی ؟ » چه گوری (حمید) پخپل چپر کټ باندی اوږ دغزیدلی اوژړل‌ئی .

( مجید ) چه‌تراوسه پوری خپل ورور په‌داسی پوحالت کښ نه‌و ، لیدلی ، له‌دی وضعیت څخه ډیر خفه، اومتعجب شو ،او راز راز پښتنی ئی له ( حمید )ځنی وکولی ( حمید ) دگردو سوالو په‌ځواب کښ ، اك همدا یوه خبره کوله : « نه پوهیږم ، په ځان ناروغ یم چتی خوبونه وینم » . نوهرکله‌چه ( مجید ) وربانذی ډیراصرار وکولونو دائحواب‌ئی ورته‌وو یلو : « مورمی په خوب کښ ولیده ، اودهمدی لیاره په‌ژړا شوم »

داخبره د (مجید) په زړه کښ کیناسته ، اوبیرته خپل کورته لاړ شو .

اگر که په دی وخت کښ ( حبیبه ) هم ورو ورو ژړل مگر (مجید ) چه د خپل ورور په‌فکر کښ ډو ب تللی و ددی ژړاته‌ئی پام ونشو ،او که ددی په ژړا باندی هم‌پوهیدلی وی . نوهر و مرو به له دی پټ روحی ارتباط ځنی‌څه نه‌څه خبریده .

هو ! په رښتیاسره که داسی کیدلی چه (مجید) ددوی په‌اصلی درد باندی پوهید لی وی او ددوی داصلی رنځوری تشخیص دده له لاسه پوره کیدلی ، نو به داغم راوړونکی قصه داسی نه پیښیدله اوبل کوم شکل به ئی ځان ته غوره کړی و . مگر سړی څه ووائی:

د جهان حادثات پخپل تگ کښ ډیر چابك او گرځندی مشغول دی

او دده او دهغه اودنورو کسانوله خاطره دخپل دتگ لارنه چپوی

ځکه چه انسانان دجهان دحوادثو په مخ کښ کټ مټ داسی دی

ketabton.com - The Digital Library



لکه د ونی هغه وچی او سپکی پاڼی چه د منی په وخت کښی ئی باد هری خوا ته آلوزوی .

د اشپه تیره شوه ... ( حمید ) په ښکاره سره آرام و... مګر د ننه په زړګی کښی ئی اندېښنه ... ره زیاته شوی وه .

غم او اندېښنه داسی یو خاصیت لری ، چه د هغو دزیاتوب او شدت په وخت کښی غمجن سړی په ښکاره سره دیو آرام او عاجز او چوپ سړی په منزله ښکاریږی .

بلی ؛ دده دعشق اور ساعت په ساعت زیاتیده ، او ده د هغه په مقابل کښی غیر له صبر او طاقت څخه بله کومه وسیله نه درلوده .

انتظار ئی ویسته که کومه مناسبه موقع په لاس ورشی ، او دی د خپل دزړه په خبره خپلی محبوبی ( حبیبه ) ته ورښکاره کړی . اودی په دی باندی نه پوهیده چه ( حبیبه ) لا له پخوا څخه خبره ده چه د هغی د مینی غښتی ډیر په ښه شانی دده دځګر په ښه لګیدلی دی .

د ښځو لطیف احساسات ، د برق دجریان په شانی د نارینو د روح په تیاره کښی خپل نفوذ آچوی . او په یوه کتنه سره د دوی په عواطفو باندی پوهیږی ، مګر د ښځو په حال باندی پوره پوهیدل ، او د دوی د پټی مینی او عواطفو څخه خبریدل په ، کلو کلو انسانانو ته ممکنه نه ده .

ketabton.com - The Digital Library



په همدې صورت سره ډېر وخت تېرشو . . . دامتحان ورځې په سرورسېدلې . ( حمید ) اړو چه د ورځې له مخې له خپل کوره بهر ته ووزي . اوددې پوالې توب په وخت کښې ( حبیبه ) ته ممکنه وه ، چه دخپلې خونې یو کنج کښې مخ په دیوال کښېني ، او له خپل ځان سره ګړېدلې ، او له خپلو سترګو څخه اوښکې توئې کړي .

د ( حبیبه ) لەدې احساساتو اوعواطفو ځنې ( چه پدې ورځو کښې ئې لرې ، او دخپل دزړه دمینې په بته لمبه کښې سوزي ، اودمحبت دغم په کړانې کښې و ر پټېږي او تلېږي ) ممکنه نه ده دمونږ قلم لکه چه ښائې هغسې څه ولیکلی شي ولې چه دښځې احساسات اوعواطف داسې مبهم اومرموز او نامعلومه وي ، چه هېڅوك دهغو د ښکارولو ، او په هغو د پوهېدلو توان نه لري .

دموسیقۍ په یوې سندرې-دساز او سرود په یو مجلس- دیوې نقشې په بنا ثبت- دیو شعر په لطافت- دیوې منظرې په وضعیت او بالاخر دیو دولت په سیاست باندې پوهېدل آسان دي ، مګر دیوې ښځې دزړه په اصلي مطلب باندې پوره پو هېدل ، له دغو ګردو څخه خورا سخت او ګران کاردی .

ketabton.com - The Digital Library



## لسم ټوک

نا څاپه (مجید) ته یو سفر ور پیښ شو اگر که د(حبیبه) او د(حمید) لری والی په ده باندی ډیر سخت تیریده ، مگر سره له دی دده تنګ دیورسمی حکم په سبب سره ضروری و . ولی بیاهم خوشحال وچه دی په کور کښ لکه ( حمید ) غوندی یو سرپرست ورور لری چه دده په نشتوالی کښ ، به هغه له ( حبیبه ) سره وی ، اوهم به د کور سرپرستی په ښه شانی سره کولی شی او پندی واسطه به د کور له لوری پوره ډاډینه لری .

هغه دخپل د سفر لوازم تیار کړل . او په هغه ورځ چه له کوره وخوځیده ( حمید ) ئی ځان سره تر موټر خانی پوری بیولی . هلته ئی تر ډیره وخته پوری له هغه سره خبری اواتری وکولی اوله اوله تر آخره پوری ئی په خوځولی د (حبیبه) په نسبت سره په هغه باندی سپارښت وکولو . (حمید) هم ده ته وعدداو ډاډینه ورکړه چه له دی لوری بالکل خاطر جمع اوسه چه زه به زیات کوشش وکړم ترڅو چه (حبیبه) خفه نشی او (ستاسو نشتوالی په هغی باندی څه تأثیر ونکړی) .

### د دنیا لوبی په دی اندازه سره خندا راو ستونکی او په عین حال کښ ژړوونکی هم دی چه انسان د هغو په مقابل کښ نه پوهیږی چه وخاندی ؟ او که وژاړی ؟

( مجید ) په سفر روان شو . او وروستنی خبره ئی همداوه چه « روکیه ! په حبیبه باندی د باید ډیر پام وی ، حمیده ! » . (حمید) هم د ده په ځواب کښ په ډاډینه بښونکی لهجه سره وویل : « ددی له لوری څخه پوره خاطر جمع اوسه مجید لالا » .

څه وخت چه موټر راهی شو (حمید) تر ډیره وخته پوری هلته ولاړ و، او په موټر پسی او ده څه دوړو ته ګی کتل، هر کله چه د هغه موټر ګردی علامی او نښی د ده له ستر ګو څخه پناه شولی، نو دی هم په ډیره هوسائی او متانت سره له موټر خانی څخه وخوځید و. دی چیرته ځی؟ معلوم نه دی! په څه فکر و کښی ډوب تللی دی؟ خدای زده!...

نن له ګهیځه تر بیګا پوری (حبیبه) په کور کښی یو ازی وه، ډیر وخت ئه شپی ځنی تیر و چه (حمید) کور ته راغی، او برابر خپلی خونی ته ننووت، ډوډی ئی نه وه خوړلی، همغسی وزی پخپل چپر کټ باندی پریووت.

نیمه شپه وه چه د پښو څپه هار ئی تر غوږه شو. سترګی ئی چه و غړولی کتل ئی چه ډیوه بلیږی، او ده په میز باندی کوندری غوړیدلی، او ډوډی ور باندی پرته ده مګر هیڅوک هلته نه ښکاریده.

اول کښی (حبیبه) داسی انتظار لر او چه (حمید) به د نهاری د پاره نن شپه هم لکه نور کله زما کور ته راځی، نو هر کله ئی ولیدد چه هغه برابر پخپله خونه کښی ننووت، نو دی هم ز غرد و شو کولی چه هغه ته غږ وکړی. خولخلی د ده د دروازی تر شا راغله، او بیرته ستنه شوه.

(حبیبه) خواره ویریده، او پوهیده چه د (حمید) په زړه کښی څه څه شان تیریږی، او بیم ئی خوړلو چه ناڅاپه د هغه د عشق مخزن، او د مینی ذخیره زما د یو ازی لپاره او په سبب لکه با روت غو ندی اور وانخلی، او هغه تر خپل نفوذ لا ندی راته وړی.

له بل لوری پوهیده چه (حمید) ډوډی نه ده خوړلی. که ګی ناری وریسی وهلی له ده څخه ویریده. او که ګی پر یښوده چه همغسی نهار څملی دا هم ورته ډیره بده ښکاریده.

(حبیبه) په ډیری تشویش، او اندیښنه کښی تر نیمی شپی پوری بخته وه. آخر ته ګی دا په فکر

کېږ تېر شو چه د (حمید) ډوډۍ توده، او تیاره کړی او ورکی وړی هلکانو ورته پرېښې دي او ډوډۍ ئې په پطنوس کښې اخیستې ورو ورو ورتلې دده دخونې دوره تر شاو درېدله، او غوږ ئې کېښود، هېڅ پوغږ ئې وانه ورېده، نو ئې ورو ور پرانیستلې وئې لید او چه (حمید) پخپل چپرکټ باندې غزېدلی دی. بیا ئې هم سوکه سوکه ورغلی، ډوډۍ ئې په مېز باندې کېښوده او څراغ ئې ولګولو، او وروسته له هغه ځنې هغسې چه راغلې وه، بیرته ووتله، او د بیرته تګ په وخت کښې (حمید) ددې د پښو شرپهاری اورېدلی، له خوبه ویښ شو، او ډوډۍ ئې په مېز باندې ولیدله.

(حمید) له خپل ځایه پاڅېد، او لاس ونه ئې ومینځل، بسم الله ئې وېلی په ډوډۍ باندې کېناستو، مګر اشتهائې بنده وه، او هېڅ شی ته ئې زړه نه کېده، او بیا سخت درد ئې پخپلو ماغزو کښې لیدلو. لکه چه دخونې دچت تر ل لنګر دده په سر باندې آ جولې شوی وی یوازې غږ لکه دغومسې بنګهار دده په غوږو کښې راتی، او له هغه سره ئې یو درد ناك احساس پخپل زړه کښې پیداکولو.

از شبه دډوډۍ په مېز باندې قرار کېناست، او وروسته ئې قاشق، او پنجه وا خیستل او غوښته ئې چه په خوراك شروع وکړي بوناڅاپي ئې دا فکر په ماغزو کښې ولویدو، چه دا ډوډۍ (حبیبه) پخه کړې ده، او دا لوخې دلته (حبیبه) ایښی دی، او دا څراغ (حبیبه) لګولی دی په مجرد ددې خیال لاس او ګوتې ئې بدل دده په زړه کښې فی الحال له ځایه پاڅېده، او له خونې ځنې بهر شو په کفش کن کښې ایز شبه ودرېده و په خیال کښې ئې ور تللو چه د شپې په تیاره کښې دده چپ چاپېر له وهمي اشباحو ځنې ډك دی څو دقیقې ئې دکور په حویلی کښې دې خوا او هغې خوا تګ او را تګ کاوه هر کله به چه د (حبیبه) دخونې شا ته ورتلو، ځلبه پلار ته درېده، او وروسته له هغه به ئې لیدل چه یو غیبي لاس و تلی، دی ټیل وهي چه له دې ځایه درومه! ولی درېدلی ئې؟ دا کار ستا له ځلي پر له پسې په عمل راغی.

(حمید) له ډېر قدم وهلو څخه ستړی شو، او سر ئې په ګرزېدا راغی، ګرد جهان ئې په سترګو کښې تیاره شو، زړه ئې په غرځنګ شو. ځنګنونه ئې په رېږدېدا شول، په غوږو کښې ئې هم هغه د غومبسې د بنګهار آواز راتلو، نو ځکه د حوض په خوا کښې کېناست، او وئې لیده چه د شپې په تیاره رڼا کښې د تالاب اوبه رېږدي، لکه چه د انسان نو د هغه ناپایدار، او رېږدېدونکي خیالاتو پېښې کوي چه هغوی شپه او ورځ په کښې مصروف دي.

یو ځلې هم له هغه بنګهار څخه یو آواز جوړ شو، د خپل نښتې په لور ئې وکتل او ښه په ځیر شو، نو ورته ښکاره شوه چه (حبیبه) ژاړي، په تلوار سره ددې د خونې په لوري روان شو، وئې لیدل چه ور ئې پورې و. ودرېدو. وئې غوښتل چه بېرته وګرځي مګر په پښو کښې ئې زور نه و، او نه ئې شوی کولای چه له هغه ځایه وخوځېږي، نو لږ ډېل ئې وکولو. د ژړا غږ زیات شو.

په دې وخت کښې چه ده باندې د تشویش او د اضطراب حالت و. لکه چه یو نوی اور ده په وجود کښې بل شو. نه پوهېږو چه په دې وخت کښې به څه فکر وکښې ده ډوب تللی و، او په دې خطرناکه شېبه کښې څه رازي مبهم خیالات ده په زړه کښې تېرېدل.

ښائې چه ددې قضیې په شاؤخوا کښې به ئې فکر چلولو او وېل به ئې چه (حبیبه) هم...

ښائې چه پوهېدلی به وي چه هغه هم...

نو ډوره تر شا ودرېدو، او زور ئې ور باندې وواهه، ور خلاص شو، او دی د ننه په منډه ننووت. (حبیبه) ئې په تیاره غونی کښې ولیدله چه په خپل چېرکټ باندې ملاسته ده. یو واری ده په زړه کښې یو سخت ارتعاش او غورځنګ پیدا شو، غاښونه ئې یو په بل سره لګېدل له سره تر پښو پورې رېږدېده، قوت ئې نه و چه خپله ښه ددې په چېرکټ باندې پورته کړي، نو ئې وغوښته چه چېرکټ سره جفت په ګونډو کښېني. اولا سونه ئې د (حبیبه)

په اوري اوزده کړي هغه پخپلي غيږ کښې ونسی .

( حبيبه ) باندې چه په عين هغې ژړا کښې اوس د خوب د هومبي شومي پريشانی راغلې ده د خپلې خونې د دروازې له پرانيستلو څخه ئې يوه سخته چيغه اوتراوخوړله . ايکه چه دې ونه پيژانده او . او يوه سخته کړيکه ئې وکړه او ډيره زياته وويريدله .

( حميد ) هم له دې کړيکې څخه ډير د تراوخوړله ، او سمدلاسه ئې ځويله د شا په خوا آخستی ، او ويل : په دلي قصد ئې وکاوه چه د ( حبيبه ) تر خوا په چپرکټ باندې کېنا ستلی د مدهوشۍ او سکر په حالت کښې چه د عشق له شرابو څخه . ورته ښه شوی وه ( حبيبه ) ته لاس وغزوی او پخپلې غيږ کښې ئې ونيسی .

عين په همدې حالت کښې په خورا پريشانی او انديښنې سره ئې ولېدلو چه د دې د خونې په نيمه رڼاتيارہ کښې يو سړی دده په نظر کښې راغی چه د ( حبيبه ) د چپرکټ په څنګ خوا ديوال سره ولاړ دی چه ښه ورته ځير شو او دقت ئې وکړ او ، نو ئې وپيژانده چه د ده مشر ورور ( مجيد ) هلته ورچ کلك ولاړ دی .

( حميد ) د خپل د ورور له پيژندلو سره سم يوه سخته کړيکه کړې وه ئې ويل : الله اکبر ! او بيهوښه شوی هلته ايکه يو مړی ولويده . . .

ketabton.com - The Digital Library



## یوولسم ټوک

د لمر وړانګی له کړکیو څخه په کوټه کښی لویدلی وی، چه (حمید) له خوبه یا بیهوښی څخه ویښ شو (حمید) په دی رڼا کښی خپلی ستر ګی پرانیستلی، تر یو وخت ئی لیونیانو غوندی دی خوا، او هغی خواته کتل، یوه المارئ ئی ولیده چه کتابونه په کښی ایښی و، په بلی خوا کښی ئی یوه لویه هینداره اودوه پردی ولیدلی او په بل لوری کښی ئی یو میز چه په شاؤ خوا کښی ئی څو چوکی ایښی وی، تر نظره شولی.

(حمید) داشیان ګرد له خپل نظره تیر کړی همدا چه دا فکر ده ته ورغی چه دی ولی له خپل چپر کټه دلته لویدلی دی او له خپلی خونی څخه څرنګه دلته رسیدلی دی. او د پرونی شپی ګردی خبری ئی یو په یو په یاد شولی سخته ستومانی ئی په ماغزو کښی ورښکاره شوه، او بیائی چرت واهه لکه چه ما په پرون شپه چپی خوب نه لیدلی وی. دی همغسی بخپل ځای باندی پروت وه او دیو ورته کیدو توان په کښی نه و.

لږ لږ د (حمید) فکر په ځای راتلو او د تیری شپی خبری په واضح صورت سره په یاد ورتلی او بخپل ځان باندی به ویریده، او لړزیده.

دی فکر چه دده ورور دده په کمین کښی و، او پرون شپه ورته پته شوی و، چه دده د خیانت منظره له خپلی ښځی سره بخپلو ستر ګو وو ینی، او دده ددی نا کامه عشقی سرآخر رسوائی ته ور سیدلو، ډیر سخت تاثیر ئی ورباندی وکړ او، او له سره تر پښو یو ری لمبی ورباندی بلی شوی.

په دی آرزو کښی وکه حضرت عزرائیل علیه السلام ورته راغلی او ساهی تری آخستی او سمدلاسه مړ شی، دا به ډیره ورته ښه وی، له دی څخه چه بیا خپل مشر ورور سره مخامخ شی.

په تېره بیا چه د خپل دوروز محبتونه او شفقتونه او اورینه او مهربانی یو په یو د ده په مخ کښې دربده او دهغو تولو په مقابل کښې ئې خپل داناوړه حرکت ته فکر کاوه ، نو ډېر زیات به ئې په خپل ځان باندې لعنتي او ملامتي ویله ، ګویا د ګرمتوب پولوی بار د ده په اوږو باندې بار و . او د ندامت او د انفعال احساس به ، زیات آزار ور رساوه .

مګر آیا اوس دا پښېماني او دا انفعال او دا ندامت ورته څه فائده رسوي ، چه کار له کاره تېر شوی دی ، او وروړئی دده په دې بد کار پوهېدلی دی او دده د خیانت ننداره ئې پخپلو سترګو سره کړې ده . هرڅومره چه (حمید) فکر کاوه د تېښتې لاره ئې نه شوه پیدا کولی . او نه دې لعنت ویلو او ملامت کولو څخه هیڅ یوه فائده نه ور رسېده . ولې چه اوښې دمت او غوړی توئی شوی وه . او دده در سوائی لګن له بامه اوېدلی و .

یعنې دده وروړ ؛ وروسته له دې څخه چه دده له عاشقي څخه خبر شوی دی ، په داسې پوچل سره د شپې له خوا د ده ته پته شویدی ، اوس دی چه دی ئی و لیده چه د ده د ښځې خونې ته په نیمه شپه کښې ننووت ، او دهغې چپرکټ ته ورنژدې شو ، او په دې صورت سره ئې دده له پټو خبرو څخه ځان خبر کړ ! نو اوس زه څه وکړم ؟ او څه خاورې په سر باد کړم ؟

دا رازې خیالات د ( حمید ) په ماغزو کښې تېرېدل . او دی د هغه غرق شوی سړی په شانې ښکارېده . چه په اوبو کښې ډوب شوی وی . او د ځان د خلاصې او د بهر وتو لپاره لاس او پښې غورځوی . سره له دې چه دې ښه پوهېدو چه دا ګرد فکرونه چټی او بیکاره دی .

بل یو فکر دده په زړه کښې وګرزېدو . نوزر پاڅېدو . او خپل سرئې ښکته آچولی لکه غل د ( حبیبه ) له خونې څخه په منډه وتلی خپلې خونې ته ننووت او هلته ئې خپل کالی او دریشي واغوستله ، او په داسې پوشانی چه هېڅوک ئې ونه وینې ، ورو ورو پټه له انګر څخه په داسې

حال ئې چه سرگی تېت آچولی و ، بهرته ووت . وروسته له دې چه کوڅې ته ورسېد و نو یې منډه وهلې شروع کړې تر یو حده پورې ئې په تلیوار سره ځان ورساوه نو هلته دریدلی ، خپله کلمه ئې لوستلې ، د هوسائی نفس ئې له خپله ټټره ځنې وویست . مگر تر شا به ئې پسې ورته کتل چه څوك ورپسې شته او که نه ؟

هر کله چه په دې خبرې باندې ئې ډاډینه پیدا شوه چه د ده پسې څوك نه ځغلی او ده ته د هیچا پام نه دی ، نو شکر ئې وویسته . او بیا دغه په شان د لاری په یوه خوا کښې روان شو .

حمید اچه تلونکی به په مخه ور تلل ، ځان به ئې تری گوښه کاوه . تر دې چه مو تر خانې ته ورسېد . او هلته په ژورو فکرو کښې ولویده .

اځکه چه (حمید) د تبیتی فکر په سر کښې لری ، او غواړی چه د فرار په ذریعه ځان له خپل کور او ورور ځنی پټ کاندی . مگر په دې باندی نه پوهېدو چه چیرته لاړ شی ؟ .

فقط دا خبره ئې په زړه کښې ټینگه کړې وه . چه وروسته لدې ځنی نه ښائی چه خپل ورور ته ور په مخ شی . او لدې څخه زیات بل کوم یو مقصد ئې پخپل زړه کښې نه لرلو . مگر د دې خبرې له تصور څخه چه دی به له خپل ښار ځنی لری لوېدلی د مسافری او غریبی په مصیبتو او ورېږو باندې آخته کیږی ، ډیر و یریده .

ناڅاپه یو غږ ئې له ورا څخه واورېده . چه ورته ځیر شو ولی کتل چه د اگی دی . د پسټی موزع د ده ته وېل : «حمیده ! چیری گرځې . زه د ستاسو کور ته تللی وم . تاسو هلته نه وی . »

دا کښانی چټی رسوونکی د دې جملې له ویلو ځنی وروسته له خپل بکسه ځنی د ده د ورور

خط وویستلو ، چه د ده ته ئې له لرې یو ښار څخه یې هغه‌یرون ورځ آستولی و. او نن ګهیځ دلته رسیدلی دی. او وروسته له دې څخه داګې خیال در سید اتو کتاب ده ته‌ورواندې کړی ورته‌وئې ویل چه « آغا ! د دې خط له رسیدلو څخه دلته لاس لیك وکړه .

«حمید» د دې خط په لیدلو سره هك پك او حق حیران پاتې شوی د ډاکخانې په کتاب کښې ئې امضا وکړله .

پاکټ ئې واخیست عنوان ئې چه‌ولوست ویوهیده چه د ده د ورور په خط د لیکلی شوی دی. یو سخت اوسیلې ئې له‌ټټره څخه وویست او پاکټ ئې وسپړ او اووئې لوستلو او ویو هیدو چه ورور ئې په اول‌منزل کښې همدا چه‌له موټره ښکته شوی دی د ده او د (حبیبه) د ډاډینې لپاره ئې دا خط لیکلی دی. او یه‌پسې کښې ئې چالان کړی دی .

دا خط ئې خوشحالی په خورا دقت سره ولوستلو ، او وئې لیدلو چه په‌هغه کښې د ( حبیبه ) ډېر سپارښتن شوی و او داهم‌په کښې لیکلی شوی و چه باید په‌نورو‌کورنی کارو باندې هم زیات پام لرنه ولری او مخصوصا ( حبیبه ) د تل تر نظر لاندې لری چه خپه درځنې نشي .

( حمید ) له‌دې او بې څخه هیڅ شي باندې ونه‌پوهیدو کاغذ ئې بیا په‌ډېر دقت سره ولوست او لاندې باندې ئې کړ ، او د ده پاکټ ته‌هم ډېر ځیر شو و ئې لیده چه د هغه ښار د ډاکخانې د باطل کولو مهر ئې خوړلی دی چه له‌هغه‌ځایه دا خط استولی شوی دی .

بهر تقدیر سره وروسته له لیدلو د دې خط څخه ( حمید ) له خپلی تښتی او فرار څخه ستون شو او له موټر خانې څخه د ښار په‌اوری وخوځید او ورځ ئې چټې په‌دې خوا او هغه خوا ګرزیدو سره تېره کړله .

ketabton.com - The Digital Library



نژدې تیاره ماښام وچه (حمید) ستړی ستومانه وږی تږی بېرته کورته ورسید . دکورپه خوا کښې بیاشاك ورته پیداشو، نه چه خپل کورته ورننوزی او خپل ورور سره مخامخ شی .

بیائې همغه‌یا کټ له خپل جیب څخه وویست (چه له‌صباراهیسی ئی هغه له‌سال ځلی ځنی زیات لوستی و ) او بیائی ولوست او ددا ګڼخانی مهروته‌ئی دقت وکولو او بیائی کلك پخپلو منګلو کښی نیولی هلته ودرید، او په یوژور چرت کښی پریوت مگر سره له زیات فکرکولو هم په دی معما باندی هیڅ و نه پوهید و .

نژدی نیمه شپه وه چه دخپل انګړ ددروازی ترشا ودرید، او په ډېره و یره او احتیاط سره ئی دروازه ورووهله .

لکه چه (حبیبه) دده‌په انتظارکښی غوږپه آواز وه زرئی ورپرانیت او ځان ئی یوخوا نیولی په یونری ریږدیدونکی غږ سره ئی وپوښتیدوچه تاسو چېری و است چه د ا ګی تا سو پسی ګرزیدداود (مجید) خطائی دسناسو په نوم راوړی و؟ .

(حمید) ددی خبری په آوریدلو سره آرام شو . ولی بیائی‌هم زړه ډاډه نه‌و او هغه شوم خیال دده په ماغزو ئنی همغسی ناست و اوداسی تصورئی کاوه‌چه دالوبه دده درسوائی او مسقرګی لپاره روغه شوی ده .

د (حبیبه) له خه‌تیر شوی برابر خپل کورته ور ننووت . ازوخت وروسته (حبیبه) دده ته ډوډی راوړله او دده په مخ کښی ئی کیښوده، او دستی بهر ووته . (حمید) ډوډی وخوړله او په بستر باندی پریووت ، مګر ترصبا پوری ئی په ستر ګو کښی خوب نه و .

ketabton.com - The Digital Library



## دولسم ټوک

لمر ختلی و، چه (حمید) په داسې حال کښې چه ډیر پریشان او سرګردان او ستړی او ستومانه و، له خپل کوره څخه ووت.

د (حبیبه) په خونه کښې هیڅوک نه و، ولی چه (حبیبه) بهر په حویلی کښې وه او له کمیځه راتلې په خپل کورنی کار و کښې بخته وه ولی چه نن خپل پلار کره تلله. (حمید) دهغې خونې ته ورننووت او هرشی ئې په خو ر ادقت سره له خپل نظر څخه تیر کړ ل.

پو ناڅاپه له خورا تعجبه په چیغو ګډ شو لکه چه دامشکله معما چه دده په ماغزو کښې ئې له څو شپو او ورځو څخه راپاتې ځای نیولی و، پخپله حل شوه.

یعنی دده دوروز یوخورا لوی قد نیوونکی عکس د (حبیبه) دچپرکټ ترڅوا دیوال سره ولاړو.

هو! دا څېره د (مجید) وه چه د تکت په وخت کښې ئې د (حبیبه) په خواهش سره هغه اخیستی او په پوښتنه ئې چو کاټ کښې ئې نیولی وه (حمید) خوار چه په هغه شپه ډیر ویریدلی و علت ئې همدا و، چه د خپل ورور په دې قد نما عکس باندې ئې سترګې لګیدلی وې.

په رښتیا سره چه خیال پر وز ماغزه تل د اضطراب او دپریشانی په وخت کښې دخیال او دحقیقت په منځ کښې فرق نشی کولای. لکه چه په (حمید) باندې هم همدا ټوقه شوې وه.

یعنی (مجید) ددوی له عاشقی او پتو خبر و لاهم هیڅ خبر نه و، او هغه پخپل سفر کښې مصروف و. داشیان فقط د(حمید) واهمې یا ویری له خپل لحاظه روغ کړی و. اودا ټه هغه هم هغسې لکه چه وه یاتې وه او اوښې نه ومات شوی، بلکه روغ اوغوړی هم هغسې موجود وه او دد وی دعاشقی اسرار لا څاته ښکاره شوی نه وه. نوهر کله چه هغه ټې خیال او واهمه (چه ددې کړدو و حشتو او ویرو سبب ګرز یدلی وه) له منځه ورک شوه، بیاهغه اور د (حمید) په سر باندې بل شو او له دې خبرې څخه چه دې غولیدلی و، او ورورئې لا دده په دې مینتوب باندې خبر شوی نه دی، ډیر زیات خوشحا ل شو. او دهغه مارغه په شان چه له لومې څخه

خلاص شوی وی. دا نګر په حویلی کښې دی خوا، او هغه خوا ګرځیده، او د خوشحالی او د نشاط په جوش کښې به داسې اوضاع له ده څخه لیده کیده لکه چه بیرته د ماشوموب دورې ته تللی وی.

په رښتیا سره چه (حمید) له ډیرې خوشحالۍ ځنې خپل سر له پښو ځنې نشوای پیژندلی، او په او چت غږ سره به ئې سندرې ویلې. کله به د ننه کوټې ته ننوتلو او بیا به د حویلۍ په چپ او چاپیر کښې ګرځیده، لږ شیبه به د حوض خوا کښې کیناستلی خپل لاسونه او مخ او پښې به ئې وینځلې. او بیا به ئې باغچه کښې قدم واهه ګلان به ئې شکول، ونو سره به ئې غیږې ورکولې ور وسته له دې څخه به بیا کوټې ته ور ننوتلو، کله به ئې میز او چوکۍ او کتابونه په یو کنج کښې وطاروا او بیا به ئې هغه ترتیب ورنګول په بل کنج کښې به ئې همغسې ترتیبات روغول.

د اګر د حرکات، او لوبې چه د (حمید) له اورې لیدلی کیدلی د خوشحالۍ او نشاط نښې او آثار و.

ګویا چه (حمید) خوار د دې زیاتې خوشحالۍ او نشاط په مقابل کښې مغلوب شوی و او د هغه د تحمل طاقت ئې نه درلود.

هو که خوشبختي هم لکه بدبختي له اندازې ځنې تیره شي د زحمت او دربدۍ موجب ګرزي، او له همدې جهته وائي چه په هر شي کښې اندازه ساتل او میانه روي خوراښه ده.

په دې وخت کښې (حمید) داسې یو دوست او یار ته اړ وه چه د خپل زړه د دې خوشحالۍ اندازه ورته ووائي، او خپل هغه موهوم خپګان چه څو موده پخوا چتي پتې ورته پیښ شوی و، او اوس هغه خپګان په دې خوشحالۍ سره بدل شوی دی ورته ښکاره کړي.

دا یو طبیعي امر دی چه انسانان د خوشحالۍ او د خپګان په وخت کښې غواړي چه له نورو سره کښینې، او پاڅي، او خبرې، او

اتري سره وکوي او يو او بل سره وګډيږي، او خپل غم سپك او خوشحالي په هغه سره زياته کړي. ګويا په غم او ښادي کښې د خلقو ناسته او ولاړه په همدې فلسفه باندې بناده .

ومو ويل چه ( حميد ) غوښته چه د دې خوشحالي خپل مرا تبچا ته ور ښکاره کړي مګر افسوس چه نن په کور کښې هيڅوك نه و او ( حبيبه ) هم خپل پلار ګره تللې وه او دا يواځې تو او دې خوشحالي به ( حميد ) باندې زښت زيات اثر غورځولی و، او هيڅ نه پوهيده چه څه وکړي تو پخپل ځای به آرام نه کيناسته ، او دا يو بيانو پښتاني به دې خوا، او هغې خوا ګرزيده، ديوال سره به ښغ درېده ، او د چمن په منځ به پراخ لويده ، او په خيابانو باندې به ئې سر ګنډلي وهلي، او د ونو به څانګو به ئې لاس وه خوړل، او خپل ځان سره به پرته پرته غږيده ، او په او جته سره به کټ کټ خنديده .

همسايګان چه د ( مجيد ) د مسافرۍ څخه خبر نه و، او پوهيدل چه ( حبيبه ) او ( حميد ) هم په کور کښې دي. اول دا خبرې او خندا نه چند ان منو جه نه و ، خو هر کله چه شور ماشور زيات شو ګرد سره په دوی باندې غونډ شوي وئي ليدل چه په کور کښې پرته له ( حميده ) بل هيڅوك نه شته او ( حميد ) هم يواځې پرتو خبرو کښې داسې تو د راغلی دی چه آسمان او ځمکه نه پېژني ، او هيڅ ته ئې پام هم نشته .

نو له همدې جهته و چه ور وسته د ( مجيد ) له راتګ څخه ، ګرد و همسايګانو ور و ويل چه په پلانۍ ورځ چه نه ته ، او نه د کور په کور کښې وه ( حميد ) ليونی شوی و
آيا په رښتيا سره ( حميد ) په هغه ورځ ليونی شوی له و ؟

## د يار لسم ټوك

( حميد ) رنځور شو، او په بستر کښې ولوېده ( حبيبه ) به دده خدمت کاوه، دوا به ئې ورکوله، او پارېزانه به ئې ورته پخوله . مګر لدې سره به نژدې نه کښېناسته، او ورسته له کېښودو د دوا، او پارېزانې څخه به سمدلاسه بېرته تلله، او ليارې ددې چه نبايد رنځور په کور کښې يوازې وي، نو يوې ښځې ته ئې له همسايګانو څخه دده د خدمت، او باخبرې لپاره بلنه وکړله، او ښائې چه ددې بلنې په نسبت به بل کوم مقصد هم ددې تر نظر لاندې و .

په هر صورت سره ورسته له راتلو ددغې ښځې څخه دوی په کور کښې سره يوازې نه وو . شپې او ورځې تېرېدلې او ورو ورو ( حميد ) هم مخ په روغتيا کېښود، او په عين همدې ورځو کښې چه ( حميد ) لږ څه ښه شوی و ( مجيد ) هم له خپل سفر څخه بېرته ورسېدو .

اوس نو کارونه لکه پخوا غوندې بياجاري شول، او ددوی ناستې او ولاړې هم هغه عادي صورت ونيولو .

امتحان شروع شو ( حميد ) دورځې له مخې بهرته درومې، څوك نه پوهېده چه دی چېرته ځي ؟ او په څه کار باندې بخت دی ؟

( مجيد ) خيال کاوه چه دده ورور په امتحان ورکولو سره مشغول دی، او ښائې چه همداسې به هم وه، وبه ګورو . ولې چه داقضيه وروسته لدې نه څرګندېږي، او دشپې او دورځې په تېرېدو سره به ګردشيان ښکاره او دټولو کارو له مخې ځني به پرده لرې شي .

ورو ورو دپېښې مينې دبحران دوره پای ته ورسېده، يعنې هغه لومړنی هيجانات او شورماشور او تلوسه ورکه شواه .

هو ! اور دبلېدو په شروع کښې له نورو لوګو سره ګډ او تيار ښکاري . په هره اندازه سره چه دغه اور لګی کېږي، او رمخ په لړناکې زدي او تودښت ئې زياتېږي . همدارازې دمينې لمبه هم

په پردو پسې ورځو کښې مرموزه او ډېره وې ، او ګڼې او تیاره ګې ریاته وې . د شپې او د ورځې په تېریدو سره د هغه هیجان او شور ماشور لږېږي مګر قوت او زور ګې ډېر زیاتیږي . او په دې وخت کښې خوارمېن پخپل زندګي کښې د داسې یو سخت درد احساس کوي چه دا لږه د جېچلو په شان لږزوونکې او درد ښو نکې وي . غواړي چه چیغې ووهي مګر نفس ئې کوتاهي کوي . او وائي چه خپل کال خبرې او مخ په چول او بیابان کېږدي ، مګر جرئت ورته پاتې نه وي . په یوې بلې لمبې کښې دده ګردوجود سوزي ، او دننه په زړه کښې ئې د سکرو تو سوراتګار بلیږي تعجب لا په دې کښې دی چه دی لا غواړي چه په همدغو لمبو کښې د سوزي او د هغه زړه د په همدې سکروټو ماندې وریتیږي . او نه غواړي چه یو ساعت داسې او دا تکلیف له هغه ځنې لرې شي . او که وغواړي هم امکان ئې نشته چه ورځني هغه لمبه او انګار ورک شي .

دی یې مېنې خپله دا دوره هم پای ته رسوله او په دې دوره کښې هم (حمید) او هم (حبیبه) د واړه سره سرزیدلي او یو له بل ځنې لرې په سره اګر ریا لدې ټریدل مګر غیرې ئې په پورته ګولو .

دورځې له مخې به (حمید) له کوره بهرته وتلو . دشپې له مخې به هم ډېر ناوخته کور ته راتلو او کله کله به ئې شپې هم بهر تېرولې . او په بله شپه به ئې چه ور ورپښتنه ورځنې کوله چه هلکه پرون شپه ولې کورته نوې راغلې ؟ چېرته وې ؟ هغه به سمدلاسه داپه ځواب کښې ورته وېل چه دخپل یو مکتبي ملګري به کور کښې په علمي خبرو او اتر و سره د مشغول وم . (مجید) به د دې اصولي ځواب په مقابل کښې هیڅ نه شو ویلی ولی چه دامتحان نږدې وه ، او ګرد طالبان به داسې فرصت کښې همدا عادت لري چه یو بل سره ګېني او په عمومي او فني خبرو کښې سره مباحثه کوي او د امتحان مقدمات سره تو اوي .

مګر دا به داخبره تحقیق طلبه وه چه آیا (حمید) پخپل دې ځواب کښې ریښتونکی دی ؟ آیا هغه به رښتیا سره د علمي خبرو لپاره دشپې بهرپاتې کېږي ؟ داخبره [illegible] ورو سره ښکاریږي .

هر کله چه د مین لری والی ، او د عاشق فراق ، د مینی لمبه زیاتوی ، او د عشق سکروټی لا تازه کوی ، نو د (حبیبه) هم د عشق درد او د مینی سوی په دی ورځو کښی چه (حمید) سره نژدی کتنه ، او ډیر نژدی بهڼی له هغه سره ملاقات کاوه ، زیاتیده . مگر سره له دی درد او سوی نسبت پخوا ته په ظاهر کښی ډیر آرامه ښکاریده .

زمونږ په دی داستان کښی یوه خبره باندی لا تر اوسه پوری تیاره پرته ده ، نو ښائی چه دلته په هغه باندی لږ څه رڼا واچوو . ولی چه تاسو هم خواه مخواه دی نقطی ته متوجه یاست او تر اوسه پوری خدای زده چه څو ځلی به د تاسو په زړه کښی دا خبره تیره شوی وی ؟ .
آیا (حبیبه) عاشقه نه وه ؟

ولی (حبیبه) هم مینه شوی وه ! او د عشق په سکروټو باندی کړیده ! !

نو ډیر ښه ! (حبیبه) ولی د خپل د مین توب علامی نه ښکار ولی ؟ . . .

تیره ټکی همدادی چه اوس ئی مونږ لږ څه روښانه وو .

(حبیبه) ورو سره اندی ښځه چه د خپلو احساساتو په مقابل کښی مغلوبه شوه ، او غوښتل ئی چه د خپلی مینی او د عشق علامی (حمید) ته ښکاره کړی ، فقط د همدی خبری لپاره د خپل د عشق له ښکارولو څخه ستنه کیده ، چه دا پوهیده چه (حمید) هم په همدی درد باندی آخته دی و بېرته همداده چه د رو مینی اقدام او میلان د هغه له لوری شروع شی ، تر څو چه د ماعزت او احترام د هغه په زړه کښی زیات وی . مگر د (حبیبه) دا انتظار تر اوسه پوری بی[illegible] نتیجی پاتی دی او (حمید) سره له دی چه د دی د عشق د اور په لمبو کښی سوزیده ، مگر په دی فکر کښی ئی عملا تر اوسه پوری هیڅ اقدام نه دی کړی ، چه د خپل مین توب اظهار (حبیبه) ته وکړی . همدارازی (حبیبه) هم څو ځلی د مین توب تر تاثیر لاندی راغلی عزم او تصمیم او نیت به ئی کاوه چه د خپل د زړه خبره (حمید) ته ور ښکاره کړی ، مگر د لطافت غرور ، او د نازکت سعور ، او د اوښی او د معشوقیت دستور دی ته اجازه نه ورکوله چه په دی اظهار کښی اول پلا دا زغرد وکړی .

ketabton.com - The Digital Library



ښځه یو عجیبه مخلوق دی . که ئی له ډیری مینې سا ، تر ستونی پوری هم رسیدلی وی ، بیا هم له خپل غرور او تکبر ځنی لاس نه آخلی.

ځان کندن به کوی ، مګر نه غواړی چه د دې د لوینی په تاداو کښ کوم درز واویږی . پخپلو پښو د قبر لحد ته روانیږی ، مګر له خپلی خودپسندی ځنی لاس نه آخلی . او تل غواړی چه د خپل ښائست او جمال په پنګه سره ، ګرد جهان و پیری او ګرد خلق خپل ځانته مسخر او تابعدار وګرزوی .

هو ! د ښځو په لاس کښ پرته له غرور ، او تکبر او خودپسندی ځخه بله کومه مؤثره وسله نشته ده او خولک به وی چه د ښځو د غرور ، ه د آسمان په مقابل کښ په خاورو باندی ناست نه وی او د ښځو د تکبر او مغروری په مقابل کښ به تواضع او عاجزی نه کوی ؟ . . .

(حبیبه) سره له دې چه د (حمید) د مینې په سکر وټو باندې تلیده، مګر په دې خبره باندې به ډېره زیاته خوشحالیده، او خورا زیات حظ او نشاط ور ته پیښیده چه (حمید) هم د دې د عشق په لمبو کښې کړیده، او هر ځلې به ئې چه لیده چه (حمید) خوار د دې د مینې په اور کښې سوزي، او د دې په عشق کښې بالکل نا قرار دی ډېره به خوښیده، او خپل ځان به خورا اوې، او ډېر ښکلې ور ته ښکاریده او قصد به ئې کاوه چه پخپلې استغنا، او بې پروائې کښې باید چه ټکلکه، او ټینګه وي. ترڅو چه (حمید) د خپل د عشق، او د مینې اقرار یا اظهار، او عرض د دې د جمال، او ښائست په دربار کښې و نه کړي، او دائې په خورا ناز، او نیاز، او لوېنې، او تکبر، او غرور سره واوري.

نو آیا ولې (حمید) دا خپل عرض دې ته نه کاوه؟ . . . د دې خبرې علت موږ خوا لدې ځنې خو ځلې لیکلې دی !.

په همدې صورت سره غوټې د وې میاشتې تېرې شوې مګر دا په مینه ښکاره نشوه.

هو! ترهغه پورې چه (حبیبه) د (حمید) له مینې ځنې خبره نه وه په هره وسیله او بهانه سره چه وه ئې د ځان په لورې متوجه کړ و، او هر کله چه پوه شوه چه (حمید) هم د (حبیبه) د عشق په اور کښې سوزي، نو اوس ورځنې لرې ګرزي، او غواړي چه د دې ورپسې و ځغلي، او ورپسې و ګرزي.

آیا په دې وسیله سره امکان لري چه (حمید) په (حبیبه) پسې مئین وو هې؟ آیا د دې زغر د کولې شي چه د خپل د زړه درد (حبیبه) ته څرګند کړي؟ . . . دا خبره به وروسته لدې ځنې ښکاره شي.

ketabton.com - The Digital Library



## خوږ راسم تو ک

امتحانونه ختمیدونه نژدې شول . ( مجید ) انتظار او حه زرترزره امتحانونه پای ته ورسیږي . ولې چه دده ورور ( حمید ) د تحصیلاتو دوره یې دې امتحان کښې تمامیده ، او هغه د طب شهادتنامې په اخیستلو سره کامیابیده .

( مجید ) ډیر زړه کښې د ( حمید ) د سعادت ، او ښه والی لپاره خورا اوږدې اوږدې نقشې جوړولې ، او ویل به ئې چه اوس به خو ورځې وروسته دده ورور لکه چه تراوسه پورې يې خپلو تعلیماتو کښې اول نمبر خوت په دې امتحان کښې به بیاهم اول نمبر شي ، او د ډاکترې عالی الاعلی شهادتنامه به واخلي او بیا وروسته به دواخانه پرانیزي ، او په هغې شفاخانې کښې به د رنځورانو او د حاجتمندانو علاجونه شروع کاندي ، او د هغې د حق المعالجې څخه به دومره ګټه ترلاسه کوي چه زه به په اسانۍ سره ددې کښې نه یوازې د خپل او د هغه د کور ضروریاتو نواقص پوره کړی شم ، بلکه د ( حمید ) دواده او د کور سررشته به هم په یو اصولي ډول سره وکولی شم .

( مجید ) ته ددې خبرې له تصور څخه زیاته خوشحالي او نشاط پیښیده ، او په وار وار شکرونه به ئې ایستل چه خدایه ! زه ستا ددې مهربانی او الطاف څخه ډیر خوشحال او شکرګذاریم چه زما هغه بدحال او بده ورځ دې په دا ښه ساعت باندې بدله کړه ، او داسې باوفا او تابعدار او ښائسته ښځه دې راته بخښلې ده ، او داسې قابل او هوښیار او باوفا او تابعدار ورور دې راته مرحمت کړی دی ، او په سر د هغه ماته دهم لوی عزت ، او منصب او رتبه ، او معاش کرامت کړیدی ، او دمره مهربانی ، او لطف دې راباندې کړیدی چه اوس زه له هر شي څخه بیغم یم ، او د کور ، او د بهر ګرد کارونه مې په زړه پورې دي .

د امتحان شپې ، او ورځې په هغه ډول سره پای ته ورسیدې ، او ( مجید ) به تل د خپل وروره راتلو ته د سعادت په فکر ، او چرت کښې و خو څلې د سرا یو ، او د ګوتو په ابدال

لپاره ولاړ تر څو چه یوه بیه مانی د ( حمید ) د شفا خانی لپاره غوره کړی چه ( حمید ) وروسته له اخیستلو د خپلی شهادتنامی ځنی هلته کار وکړی.

همدا وجه پس له ډیری پلټنی څخه ئی د ښار په مرکز کښی یوه اعلی ، او ښائسته مانی په ډیرو پیسو پاندی د خپل ډاکټر ورور ( حمید ) د مطب یا شفا خانی لپاره په کرا سره واخیسته ، او د هغی گرد ابتدائی مقدمات ئی د (حمید ) په اتفاق سره برابر کړلو ، او تل به ( حمید ) سره ددی نوی شفا خانی درا تلونکی رونق ، او رواج په نسبت خبری ، او اتری کولی.

اوس نو ددی نوی شفا خانی گرد لوازم ، او ضروریات ، او ذخائر سره ټول شوی دی ، او فقط د همدی خبری انتظار باسی چه د ( حمید ) شهادتنامه وروسته له لاس لیك څخه ده ته ورسیږی ، او خپل ځان د ښار د نورو ډاکټرانو په جرگه کښی داخل کړی ، او په علاج کولو ، او دوا ورکولو پاندی پیل وکړی.

دا یو ارمان ، او آرزو وه چه ( مجید ) خوار به تل کوله. معلوم نه وه چه آیا ( مجید ) به خپلی دی آرزو پاندی کامیابیږی؟ او که نه؟ وروسته به ښکاریږی چه څه پیښیږی.

دسږ کال سالانه امتحاناتو نتیجی نه یوازی د معارف دوزارت په مجله کښی بلکه په گردو روزنامو کښی نشر ، او خپری شولی ، او سم له معمول سره د کامیابو طالبانو هویت ، او معرفی سره د عکسو دهغو چاپ شول. مگر ( مجید ) د اخبارو د دی برخی دلوستلو په باره کښی ځان ته تکلیف ورنکړ ، ولی چه پوهیده چه ورور به ئی تل اول نمبر و اوس که ډیر ناکام هم پاتی وی نو هرومرو به ئی دوهم ، او دریم نمبر خو وړی وی.

په دی ورځو کښی دا خبره د تعجب او د حیرانتیا ځای وه چه ( حمید ) اوس هم لکه پخوانی ورځو غوندی تل خپه او پریشان گرزی ، او په کور او نه بهر چا سره اختلاط او خبری کوی ، تل دهغه له سترگو ځنی اوښکی بهیږی ، او سترگی ئی تکی سری بریښی ، هره گړی او هر ساعت ساړه اوسیلی باسی ، او دخپلی خونی په کنج کښی په یوه ژور فکر کښی همیشه پروت وی. که کوم ځلی له

ketabton.com - The Digital Library



کوره بهرته هم ځي نو له خپلو ملګرو او مکتبي رفیقانو سره هیڅ نه ګرزي چه نن اوصبا به دی اوهغوی ددی ښار له لویو ډاکترانو ځنی حسابیږی .

نو هر کله چه امتحان پای ته ورسیدلی و ، نو اوس د (حمید) دخپګان علت څه شی و ؟.. اودده دا پر اڅي توب اوپریشانی څه سبب لری ؟...

دا سوالونه بیا تل (مجید) له خپل ځان څخه کول ، تردی چه دده په فکر کښ داخبره تینګه شوله چه د (حمید) داوسنی خپګان علت به هم داوی چه به دی ورو سته ی امتحان کښ ، دی عالی الاعلی یااول لمبر ډاکتر نه دی وتلی او دخپلو نورو کسا میانو ملګرو ځنی شرمیږی چه ولی له هغوی څخه داځلی چپ له پخوا ځنی چه تل به اول لمبر اوعالی الاعلی خوت ، د وهم یا پنځم لمبر وتلی دی.

له همدی جهته (مجید) دروز نامو کتلوته متوجه شو چه وګوری چه (حمید) څو وم لمبر به امتحان کښ ختلی دی؟چه دوسره خپه اودلګیر ښکاری .

مګر هغه اخبارونه چه دامتحان نتیجی به کښ ښکلی وی دده پهلاس ( ددی لپاره چه دهغوی د نشر ځنی څو ورځی وتلی وی ) نه ورتله.نو ناچاره شوی دیو اخبار اداری ته لاړ اودهغه دکلکسیون شعبی ته ورننوتلی داخبارو مجموعه ئی په خپل مخ کښ کیښوده اودامتحان له شروع څخه ئی تر پایه پوری ګرد اخبارونه په ډیر دقت سره له خپل نظره تیر کړل تردی چه خپل مقصود ئی پیاموندہ اوپه لوستلوئی پیل وکړ لو .

اول نوم ئی وکتلو او دوهم او دریم او څلورم او پنځم ئی په ډیر دقت سره ولوستلو . اوخورا زیات متعجب او حیران شو چه د (حمید) نوم ئی ونه لید ، تر دی چه لسم نوم ئی هم وکتلو او خورا زیات پریشان شو چه دده دورور نوم هیڅ په کښ نه بریښیده.

نو ئی بیا له سره هغه نامنویس واوست ، بیائی هیڅ شی نه موندلو . . دریم ځلی ئی به خورا دقت او اهتمام سره ګرد نومونه سره د دوی د پلر ونو نومونه او مسکنونه او پیژندنه ولوستلو . مګر بیا ئی هم کومه مثبته نتیجه ورځنی وانه خیستله .

ketabton.com - The Digital Library



(د مجید) زړه سمد لاسه په غرځنګ باندی پیل وکړ او ، او زیاته پریشانی او اضطراب ور ته پیښ شو ، او ځکه او آسمان ورباندی ګرد وخرخیدل ، او رڼا ورځ ورباندی تپه تیاره شو له او هیڅ نه پوهیده چه اوس څه وکړی .

ده ابز شیبه ئی مدار وکړ او او بیائی فکر تول کړی دکامیاب طالبانو د نومو نو په لوستلو ئی بیا شروع وکړه .

نومونه ئی یو یو له خپل نظره تیر کړل ، او دهر نامه له لوستلو څخه وروسته به ئی خوشا نیی مدار کولو او چرت به ئی واهه نه چه لیکونکی یا نقل کوونکی یا دچاپخانی مرتبانو روزنامی مصحح په نومونو کښی څه تصرف یا غلطی کړی وی .

مګر سره له دی رازی دقت او تفکر کولو بیاهم پخپل اصلی مقصد باندی و نه رسید . او داخبار په دی مخ کښی چه دفارغ التحصیل طالبانو نومونه لیکلی شوی وونه ئی د (حمید) ار نه ئی د (حمید) په وزن او قیافی سره برابر کوم بل نوم میندهکړو چه ووائی چه دا نوم د هغه په ځای سهوا یا اشتباها لیکلی شوی دی .

بیائی د هغی روزنامی نوری صفحی او نوری شماری هم وکتلی مګر په هیڅ ځای کښی ئی نه دتصحیح په هکله او نه دتعدیل په عنوان سره د خپل ورور په نسبت کومه سابقه یا کومه کرښه ولیده .

نو ئی خپله کونه پخپلی خولی کښی ترغاښو لاندی ونیوله خپل ځان سره ئی وویل چه داڅه قصه او داڅه توقه شوه . »

د روزنامی له اداری څخه لکه یو لیونی سړی چه ځمکه او آسمان ورباندی حرخیدل او د تللو په وخت کښی به ئی کنګس خوړلو او روت ، او برابر دطبی فاکولتی په لوری راهی شو .

په دی ورځ کښی هلته هیڅوک نه و ، ولی چه د کلنی امتحانو د ختمیدو په نسبت په فاکولته کښی تعطیل او ګرد طالبان او استاذان او مستخدمین رخصت وو . یوازی یو تن پیاده د نوکری والا په دول هلته په پیره باندی ولاړ و .

( مجید ) دفاکولتی په صحن کښی د ریدلی هغه پیاده سره په خبرو شو او د ( حمید ) د حال او احوال پوښتنه ئی ورځنی وکړه . مګر هغه پیاده خوار له دی قصو ځنی هیڅ خبر نه و ، بلکه له سره ئی له ( حمید ) سره څه پیژند ګلی هم نه درلوده .

ketabton.com - The Digital Library



وروسته له دې ځنې چه ( مجید ) د ( حمید ) نښې او علامې د دهٔ وزنځاره کړې دقد او قامت او کالبو او د تنګ صفتۍ ورته وکړلې ، نو پیاده و خندل او وئې ویل چه بس بس وئې پېژندو ، ته هغه هلکی ښئی چه له پوهې مباشتې راهیسې مکتب ته نه راځې ، او نور هلکان وائي چه هغه باد ساره شوی دی .

د پیاده دې لنډې ګنډې ، او ساده خبرې په ( مجید ) باندې پوسخت اثر وا چاو ، چه لکه مار له خیل ځان څخه تاوشوی ، او داسې ښکاریده چه په هغه باندې پوسخت تندر لویدلی وي ( مجید ) له خیل واك ځنې وتلی سمدلاسه ئې په هغه پیاده باندې پر ټل وکړ ، او غوښته ئې چه له ستونې څخه ئې نیولی ځای په ځای ئې خپه کړي ، او ساه ئې وباسي . مګر هغه خوار پیاده ( چه هیڅ ګناه ئې نه وه ، او فقط یوه هغه رښتیا خبره ئې کړې وه ، حه تل به ئې له طالبانو ځنې او ریدله ) زر په تیښته شوی ، او په کومه سوړه کښې ننوتلی ورځنې پټ شو .

دې کمبخت پیاده پر ته لدې څخه چه رښتیا ئې ویلې و بله ئې هیڅ یوه ګناه نه لرله ، او دا رښتیا خبره د ( مجید ) په دماغ بده ولګیده ، او اوس غوا ړی چه د خپل د ګناه ګار وروره له دې خوار پیاده څخه اخستلی د دې متل مصداق ځان وګرزوي چه « زور ئې په خوا نه رسي نو کته به ئې وهي » .

که رښتیا وویل شي رښتیا ویل په ډیر و ځایو کښې انسانانو ته نقصان پیښوي د حدیث شریف مضمون دی چه :

( حق او رښتیا ویل خوراتر خه ، او اوریدل ئې په نادانانو باندې ډیر سخت دی مګر پوهان ئې زغملی شي ) .

نو لدې جهته مونږ ویلی شو چه دا پیاده ګرم دی ، او بایده دی چه ( مجید ) ئې له ستونې څخه ونیسي ، او په مخ مخ ئې ووهي چه ولې ئې له روغه وونکې دروغو ځنې مخ آړولی « جنګ آ چو ونکې رښتیا » ئې ویلې دی ، او حال دا دی چه نه پوا ځې د شرق لوی مصلح او نابغه حضرت مولنا مصلح الدین شیخ « سعدي » بلکه ګردو پوهانو ویلی دی :

ketabton.com - The Digital Library



(له جنګ آچوونکی رښتیا ځنې، روغه وونکی او جوړه راوستونکی د زړه غ په ځینو ځایو کښ ښه دی).

مګر په حقیقت سره داپیاده باید ملامت، او ګرم و نه باله شي .

ولی چه دی کوم وزیر یا رئیس یا دخور صاحب نه و چه داسې فلسفو باندی پوه وی، بلکه دی یو خوار، او عاجز، او ناپوه، او عادی، او معمولی سړی و چه په اخلاقی مصالحو، او مفاسدو باندی چندانی نه پوهیده، او دعوام الناسو په دول به ئی تورتی او صافی خبری کولی، او پخیلی دی وینا سره ئی چه د (مجید) دډیرا صرار، او تفحص څخه ئی وروسته وکوله، بل ئی هیڅ یو مدعا او مطلب نه درلود، بغیر له دی څخه چه په واقعی حال احوال باندی (مجید) وپوهوی. ولی چه هغه خوار د (حمید) په نسبت هم ډیر پوهیده چه له یوی میاشتی راهیسی ئی په مکتب کښ نه و لیدلی، او د هغه ملګری و به وېل چه «(حمید) خوار بادساره شوی دی»

مګر (مجید) د دی واقعی، او حقیقی خبری په اوریدلو سره دومره زیات په قهر شو یدی چه که په دی پیاده باندی ئی لاس برشی نو ګیډه به ئی وشلوی. ولی دډیر شکر ځای دی چه په هغه وخت هغه پیاده ورځنی وتښتیده، او ځان ئی تری تم کړ او .

(مجید) وروسته له دی څخه چه پیاده ئی بیانه موندہ، په ډیر قهر، او غصه سره له مکتبه بهرته ووت، ځمکه او آسمان ورباندی له خپګانه ګرزیدل، او دنیا نه یوازی ورباندی تنګه بلکه تیاره هم شوی وه .

د مکتب په دروازه کښ ئی لږ څه ډیل، او معطلی وکوله، او چرت به ئی واهه چه زه به خدای وهلی (حمید) چیری پیدا کړم چه دده د مکتب د نه ورتګ علت ورځنی وپوښتم چه دی ولی له یوی میاشتی راهیسی مکتب ته نه دی تللی؟ او په دی مهم، او عالی امتحان کښ چه دده، او زما په حق کښ د محک تیږه یا د کیمیا نسخه وه ولی نه دی شامله شوی؟

وروسته له هغه بلا اراده روان شو، او څو ساعته لا لهانده . او ګرځانده ، او پرېشانه په کوڅو ، او بازارو کښ یا ګلا نو او لیو نیا نو غوندی ګرزیده ، او په دی فکر کښ به و چه

ketabton.com - The Digital Library



( حمید ) پیدا ، او بیا به داسې پښتنې ور ځنې کوله .

له دې ګرزید و ځنې ګې پرته له ستومانۍ څخه بله کومه نتیجه په لاس ورنه غله، او په پای کښې ستړی ستومانه کورته ولاړ .

په کورکښې یوازې ( حبیبه ) دمانیام په پخلي بخته وه ، او د ( حمید ) هم ملګه څه پته او نبه نه ښکاریده ( مجید ) د ( حمید ) د کور د لټولو څخه وروسته بې له کومې معطلۍ او د یال ځنې سمدلاسه له انګړه دده دیادلټولو په قصد بهر ته زووت ، او په زړه کښې ګې دا خبره ټینګه کړه چه هرو مرو باید . زه ( حمید ) پیدا کړم ، او دا خبره ور سره سپینه کړم .

اوس نو ښاغلي چه مو نږ هم له ( مجید ) خوا ره سره مرسته وکړو ، او د ( حمید ) لږ څه پته او نبه ( که ممکنه وي ) ور ته پیدا کړو چه دی خدای وهلی اورسول شرموړی چیرته تللی دی ؟ او په کوم کار کښې بخت دی ؟ چه هیڅ پته ګې نه ښکاری ! . . .

( حمید ) په هغه ورځ سبا ته ګډ له خپلې خونې څخه وتلی دی ، او معلومه نه ده چې چیرته تللی دی ؟ او څه کوی ؟ او په کومه جرت کښې په کومه ... کښې ډوب تللی دی : ...

د ( مجید ) اوس لږ څه فکر په ځنې شوی دی ، مګر خو ... ستړی ستومان دی او ورو ورو په کوڅو او بازارو کښې پلټنه کوی ، او چپ له پخوا څخه چه چوب او جرتی په تللو ، او س له هر چا څخه د ( حمید ) پښتنې کوی ، او دده په دوستانو ، او رفیقانو پسې ګرزی که له هغوی ځنې دده د استوګنې ځای ځا ته معلوم کړی شی ،

( مجید ) چه هر چا څخه د ( حمید ) پوښتنه کوله ، هغه به خپلې دې خبرې اظهار کوله . دده د کلاس دوه دری تنه طالبانو سره ګې هم چه ملاقات وکړاو هغوی له ( حمید ) دې خبرې ویناکړې وګې و یلو چه :

دوه بیز له یوی مباستی راپیسی د ( حمید ) په پته باندې خبر نه یو چه چیری دی ؟ لکن ځنې ملګکان بائي چه هغه لا لپاندې او کم هاندې او پر پشا په ، دی خوا او هغه خوا ګرزی او چا سره هیڅ خبری او اتری هم نه کوی او داسې بربنې لکه چه چرس ګې څکولی وي پاګي شراب خوړلی وي پاګي په چا باندې زړه بایلودی وی پا . . . .»

یو تن بل مکتبی طالب العلم وویل :

ketabton.com - The Digital Library



« موږ له یوې میاشتې راهیسې پښتو شپږ رالیږي ( حمید ) سره هیڅ نه دی لیدلی سږ کال هغه په کلنی امتحان کښې هم حاضر نه شو ، او که دی په دې امتحان کښې شریك شوی وی د هغه تعلیمات چه لوړ او عالی وو ، او فکر او عقل ئې هم ښه و ، هر و مرو به دعالی الاعلی شهادتنامې په اخستلو سره کامیاب شوی و . »

مګر دا چه هغه له امتحان څخه مخ اړولی دی . نو که لیونی شوی هم نه وی ، موږ او تاسو باید په هغه باندې د لیونی حکم وکړو . ولې چه دده دا حرکت هغه چا ته پاتې کیږي چه غم و کړي ، او په میاشتې خدمت ئې و کړي ، او وئې ریبی او درمند ئې کړی او بیا په یو نیلی باندې او رور ته کړی .

## ﴿ پنځم اسم توك ﴾

( حمید ) دا سې فصد او پت کړی و چه خپل ځان مړ ګڼلی او انتحار وکړی او خپل زړه د دا سې سختې پېښې ځنې ( چه یو خوا د دنیا او د آخرت رسوائی او نقصان ، او له بلې خوا د عشق او د محبت غلبه او فوران دی ) خلاص کاندی .

نه ئې معلوم چه دا بد فکر له کومه وخته د ( حمید ) په دماغ وکښې او یدلی دی ؟ .

یوخوا اندیښه دېخکښه دا سې چې فکر و نه دده په زړه کښې نه راتله .

فقط هغه او شپې ګرځېځ چه اکو رد و ه وت ، داځای به دا بد فکر او حتی خیال دده په سر کښې ځای و نیو او . هر ورځ او هر ساعت دا مطعون او شوم تصور دده په زړه کښې ټینګیده او عزم او تصمیم ئې د خپل ځان د وژلو لپاره ټینګیده ا ...

هو ! خو نوی تعلیم او نوی تربیه ځوانانو ته د ځان وژلو فکر ، او د انتحار کله کله ورسره

ketabton.com - The Digital Library



ناخاپه پېښېږي او هغوی کمېښتان په ځای ددې چه د هغه خراب عواقب او بدې نتیجې ته فکر وکړي او ويو هيږي په داسې پوښوم اقدام سره هم د هغوی دنيا او هم ئې عقبی خرابېږي، پرانده شوي هغه ته اقدام کوي .

د ځان وژل او د انتحار سبب تل د نفس ضعف، او غلط تعليمات، او ناقصه عقيده، او لوستل د فساد بېنبو نکو او خرابو قصو، او چټي تلقيناتو، او فکر و وی .

چه داتول سره گډشوی د ژوندون د خوښو لوغرېزه (چه په هر يو ذی روح کښې شته) ضعيفه گرزوی . او ورو سته لدی څخه بې تعليم او بې تربيې او سست عقيده کسانو ته داسې يو جنون اوليو تو ب پيدا کيږي چه د هغه په اثر هغوی خپل ځانونه وژنی .

(حميد) هم داسې يو ليو نتوب او جنون کښې پريوتلی و . هغه د عشق د زحمتو او د مينې د تکليفو په مقابل کښې ځان نه شو سپمولی . او زيات له دی څخه ئې توان نه و چه د عشق په لمبو کښې وسوزی ، او د مينې په سکروټو باندې وکړيږي .

له بل اوري متيقن وچه د (حبيبه) په وصال باندې نظر و هغو موانع او محذورا تو ته چه مونږ خوښلې اشاره کړی ده ، هم بری نشی موندلی . بلکه هغه پخپله په خوښو له چه دا عاشقی تر دی حده پوری ورسيږي چه د انسانيت او اسلاميت له حده و د ه باندې او د دی خپل ځان د خپل ورور په مخ کښې او خالق او مخلوق ته مفتضح او رسوا او شرميدلی وينی .

بر سيره پر دی دا فکر ئې هم په دماغ کښې واوښتو چه دی په امتحان کښې هم شامل سوی

ketabton.com - The Digital Library



نه دی او ډیر ممکن دی چه له‌دی لوری هم دخپل وروړ په مخ کښی ګرم او مسئول وګرزی .

دا ګرد فکرونه او مشکلات دده په مخ کښی ودریدل او په سر دهغه‌دی فکر زیات تکلیف ورته پیښ کړو چه نن یا صبا به زما محبوبه (حبیبه) خبرینږی چه زه په امتحان کښی شړمله شوی نه یم او دهغی معشوقی په مخ کښی به زما مشروروړ مانه زیاړی او کنځلی کوی او تندد او تر وشه به رانه‌وائی .

دی به خپل وروړته څه ځواب ووائی ؟ ....

دی وروسته له دی څخه چه په امتحان کښی ناکام پاتی دی . او دیو اوی ډاکټر به ځای کښی خوشی یو سوداګرپاتی دی څرنګه به پیغلی ( حبیبه ) سره مخامخ کیدی شی ؟ ...

دی همغسی چه دعاشقی په درس کښی ناکام او نیم ګړی پاتی دی دطبی امتحان څخی هم بی برخی شویدی ، دانبه ده چه ومری ، او وروسته لدینه ژوندون ونکړی ! ...

دارازی فکرونو چه مونږ لږ څه اشاره ورته وکوله د(حمید )په ماغزوکښی نن ځای نیولی و اودده زړه به ئی پخساوه اوله ژوندون څخه ئی موړاو زړه ئی ورځنی توز کړی و ، او تینګک قصد ئی کړی وچه هرو مرو باید خپل ځان مړکا ندی ... مګر نه پوهیده چه په کوم وسیله سره دی عمل ته اقدام وکړی ؟ .

داخبره دتأمل کولواوسنجولو وړوه، نوځکه هغه ددی خبری په اطراف اوشاؤ خوا کښی فکر کولو .

آخرته دا غوټه هم خلا صه اودامشکل هم ( حمید ) ته حل شو.ولی چه هغه به هره ورځ په اخبارو کښی راز راز انتحارونه ا ودخپل ځان دوژلو احوال لوستلو ، اوپه عین زمان کښی ئی په طبابت اوډاکټری کښی هم تر دی اندا زی پوری مهارت درلود، چه هرڅوك ووژلی شی او داسی زهریات په فکر کښی ور غلل ، چه دهغو دیوی بخرکی له خوړلو، پادیوه څاڅکی له څکلو څخه ، چټ پټ سړی مری .

دلته ئی چه نیت اوتصمیم دخپل ځان دوژلو دپاره ټینګ‌او وسیلی اوصورت ئی هم‌دده په فکر کښی ځای ونیولو ، نوزرئی خپله کتابچه اوقلم له خپل جیب څخه وویستل او داد خپل زړه خوږه وونکی قصه ئی په یودر دنا که صورت سره د( حمید ) د انتحار علت تر عنوان لاندی ولیکلو .

وروسته د لیکلو د دې داستان ښځه سمد لاسه د یو دوا فروشۍ دکان ته تللې د یوې ساختګي نسخې په وسیله سره ئې وروسته له ورکولو د ښو پیسو لخنې یو خطرناک زهر وپیرودل او ټاره ماښام یې ډیر بد وضعیت او بد احوال (چه هر څوك د هغه اله لیدلو لخنې د ده په دې بد مقصد او بیت باندې له وړا ښځه پوهیده ) انګړ کښې ننو تلو .

(حبیبه) چه ازښه دخپل میړه له وضعیته پوه شوې وه چه (حمید) اتوی او ورته په بهر دې نوله ډیر د وخته رائیسی پخپل محبوب او معشوق او میړن (حمید) پسې پخپله اداوښکی ئی له ستر ګوڅنې توئیدې او ددې په انتظار کښې د یره غمجنه ناسته وه .

همداچه د (حبیبه) نظر د (حمید) په قد او قامت باندې ولوید، دسمه ورباندې رڼا او زړا ئې په خندا [illegible] شوه [illegible] سمد لاسه دا خوشحالي ئې پایه ځپګن باندې بدله شوه

[illegible] د (حمید) رنګ [illegible] شو [illegible] [illegible] [illegible] [illegible]
[illegible] ډیر وخت [illegible] رنګ [illegible] او بالکل په خوښی [illegible]
[illegible] کښې [illegible] پر هغه [illegible] وی [illegible] دوړې ورباندې توئی شوې وې .

بو هر کله چه د عاشق او د معشوق په منځ کښې داسې یو قوی او کلکه رابطه تل موجوده وی چه یو د بل په درد او خوږ و باندې له ورا پوهیږي او یو د بل په غم او اندیښنه کښې هرو مرو شریك وی (حبیبه) هم له څو ورځو لخنې په دې خوا (حمید) غوندې غمجنه وه او مخصوصا بیانې له صبا رائیسې ارمون خوږینه او خورا غمګینه ناسته وه، او له ماز یښین لخنې رائیسې بالکل ځمکه او آسمان ورباندې ځر [illegible] او ګړی او ساعت د (حمید) ښائسته ښکلی مخ، اوتا وګړی پیر تو نه، او صفا چپه زېره او [illegible] توری سترګی، اوتکی توری غوړی ځنی، او سم قد او خوږی خبری، او متنا سب حرکات، او عالی صفات، او ښه اخلاق، او زیات شرم او حیاء او ډیره ټینګه مسلمانی او پر هیز ګاری او داسې اوصاف د دې په خرابه زړګی کښې ګرزیدل، او د سترګو رپولو په قدر به هم د (حمید) څېره د دې له سترګو څخه نه وتله، او اوس د (حمید) د دې خراب او ابتر وضعیت د لید او څخه بالکل هکه بکه پاتې، او څه حیرانه شوې پریشانی او سودا ئې له حده زیاته شوه او د (حمید) ګرد وز حرکاتو او سکناتو ته چه داو ښاو په ښاني بهئی کول خورا زیاته د قیقه لخوره او د سترګی د ورب په اندازه بهئی هم هغه له خپلو سترګو لخنې نه غورزاوه .

داول ماسخښن وخت دی، او (حمید) په خپلې خونه کښې د ځراغ په مخ کښې ناست

ketabton.com - The Digital Library



په پوژور چرت کښې ډوب تللې دی . ( حبیبه ) دهغې کړکۍ ځنې پورچه دده تر خوا پرانیتلې وه پهتیاره کښې دده په پېره باندې ولاړه وه لکه چه د( حمید ) له وضعیته پوه شوی وه چهدی کوم خراب فکر پخپل زړه کښې لری ، او ښائې چه زه ځان پری خبره کړمه .

( حمید ) له هغې خپلې صراحی ځنې چهدده په میز باندې ایښې وه په ګلاس کښې اوبه وا چولې او ور وسته له هغه دوړ په لوری ځیرشو چه څوك خو به ده ته نه ګوری .

هر کله ئې چه اطمینان پیدا شو چه هیڅوك ده ته نه ګوری ، او دهیچا ده ته پام نهدی . نو یوه پوډری سپین سفوف ئې له خپل جیبه وویستلو ، او زرئې په ګلاس کښې تش کړلو . بیائې خپله کتابچه له جیبه وویستله ، او څو نوری کرښې ئې وربا ندی ولیکلې ، او هغه ئې پرانیتلې دخراغ ترخوائې په میز باندی کښېښودله بیائې نور کاغذ ونه هم له خپل جیبه و ویستلو ځینې ئې بیرته په جیب ، او ځینې ئې څیری کړل . بیائې له ناامیدی ځنې ډ که یوه کتنه خپلو کتابو ، او اسبابو ، او خونی ته وکوله، او بیائې دریشمه له ... له خپل ځان سره وویل چه راشه اه ورایو آخری دیدن له ( حبیبه ) ... او اوبو سره وکړه وروور خومې په کو رکښې نشته چه دهغه لا سو نه مې هم مچی کړی وی نو وروسته له هغه څخه دا دمرګی کسندول په سر نسکور کړه ، او ځان له دی ډك دو سوسی جهان څخه آرام کړه .

( حمید ) د خورانا امید ی ، او مأیوسی په وضعیت له خپله کوره بهر ووت ، او غوښته ئې چه اول له آسمان ، او سپوږ مې ، او ستو ر یو ، او د باغچې له ګلا نو ، او د حو ض له اوبو سره خدای پاما نی ، او ود اع وکوی ، او په آ خر ه کښې به له ورا ( حبیبه ) و پنی وروسته له هغه به دز هر و پیا له په سر آ ړ وی .

( حمید ) دانګړ په باغچه کښې دحو ض تر خوا ولاړ سپو ږمۍ ، او ستوریو ته ئې په یو عجیب حسرت ، او نا امید ی سر ه کتل ، او ددنیا نری وږ مې به ئې پخپلو سو ګمو کشکو لی او دژوندون خوند ، او مزی ته به ئې فکر کا وه ، او دمرګ سخت ساعت ، او تسکلیف ځنې ویر یده .

کله به ئې ویل چه څه لهدی فکر څخه تیر شه ! ! او دژوندون نعمت غنیمت وبو له ! . . .
بیا به ئې چه د عشق تسکلیف ، او رسو ائی ته کتل ، او د امتحان نا کامی ، او ملا متی به ئې چه لید له نو بغیر له دی څخه چه خاوره ئې پر ده شی بل ئې هیڅ یوه چاره نه تر ستر ګو کید له

ketabton.com - The Digital Library



پردې تر دد، او تند بذب کښې (حمید) بیا اُستاخو د فیقی ډ و ب تللی و، او هیڅ ئې ونه لیده چه (حبیبه) له ورا دمخه له هغو ګردو حرکاتو څخه چې په کور کښې ئې کول خبره شوې وه، او په مجرد دبهر و تلو دده څخه له کوره هغه سمدلاسه په کور کښې پټو تلې، او «د (حمید) د انتحار علت» ئې او ستلې، او د زهر کنډ و ل ئې لیدلی او هغه ئې په سر آړولی دی !!! ...

نا څاپه ئې د (حبیبه) کړیکه تر غوږه شوه چه وائې:

«... زه د جاړ شم حمیده! زه هم د ستاسو په درد کښې آخته یم. دادی چه د ستاسو د ډاکټری دا اوله نسخه زه ډومبی استعمالوم. هله زر شه راشه زما د سترګو توره دا کتره، چه د ستاسو د یاك عشق د امریضه د ستاسو د نسخې په استعمالولو کښې څه غلطی و نکړی !!! ...»

په ... د داور ېدو د دې غږ (حمید) و پوهیدلو چه (حبیبه) دده خوی ته ننوتلې ده ... ده، او اوس ده باندې مسخرګی کوی او خاندی ...

... ی حونې په اوری رهی شو.

په مجرد د ننوتلو په کور کښې له یوې هولناکه منظرې سره مخامخ شو.

یعنې وئې لیده چه (حبیبه) ځنکدن لرې، او لکه مار غوندې د خوا، او هغه خوا تاوېږی، او رغړی، او نژدې ده چه ساه ئې ووزی.

(حمید) په ډېره چالاکۍ سره د خپل محبوبې (حبیبه) سر له ځمکې څخه پورته کړی په غیږ کښې ئې ونیولو، او په نارو، او سورو باندې سر شو، او چیغې به ئې وهلې. مګر (حبیبه) باندې تیره شوې وه، او کار له کاره وتلی و ...

(حمید) چه دا درد ناکه وضعیت ولیدلو فی الحال ئې هغه پاتې شوی زهر چه کنډول پرې ککړ پاتې و، په سر باندې آړولی تر آخره یعنې څاڅکی پورې ئې وڅکلو او د (حبیبه) تر څنګه د زهرو له تاثیره وغرځید.

په عین همدې وخت کښې چه د (حبیبه) ساه ددې په کوګل کښې خرهارې لرې، او (حمید) لکه مار غوندې پېچل ځان باندې تاؤ نه خورې فشار کوی، بدبخت (مجید) هم سترګې ستوانه کړه ته ور ننوت، او د خورا زیات خرهار او فشار په اثر چه (حمید) له کور څخه ئې واورېدو ګر ګیلی همغې خوا ته رهی شو.

ketabton.com - The Digital Library



نا څاپه ( مجید ) کمبخت په داسې یوه بده منظره باندې ورو اوښت چه هر سړی به دهغې له لید او لخنې خورا زیاته تراخوږ اوه، اوډیر زیات به ئې ژړل، او هڅ یلګ به یانی ګیډو !

یعنی بیمخی او ګلالی ښځه ئې (حبیبه) یوخوا ګیزه وزه پرته اوژ بهئې له کاره او یدلی !! او دمرګی ورو ستنی ساګی وهی !!.. اومړی !!!... اوښاګنه اوښکلی وروړئی (حمید) یه بله خوایه سر باندې چرایزی اوځان کندن لری! اولاس اوپښې آچوی !!.. اوسترګی ئې تکی سپینی اوښتې دی !!!...

هرڅو مره چه ګور ورانی او کمبخت (مجید) بی اختیاره چیغې وکولی او بی واکه ناری او سورۍ ئې وهلی اوحبیبه! حبیبه !!.. حبیبه !!! ..ئې ویلی او واز خطاوار خطائی خوځوله.اولعځا یهئې یورته کوله هیڅ فائده ئې ونه کوله !!!...

حبیبه نامراده لا سه وتلی او بل عالم ته رسیدلی وه !!!...

بیائې په چیغو باندې پیل کړی له ژړاځنی یوری راوری ډك ستونی سره حمیده! حمیده!!.. حمید!!!...ئې ویل.

(حمید) په خورا زحمت او تکلیف سره دده پهلوری سترګی آړولی، په نیولی اوغوره غبز سره ئې «بلی!» وویل:

(مجید) زرتررره پهغه باندې ځان نسکور کړی لهخپلو سترګو څخه ئې غټې غټې اوټو دی تودی اوښکی دهغه پهمخ باندې توئی کړی وئې یوښتیدلو :

«زماد زړه سره! تاسو باندې څه توقه شوی ده؟ ... اوزه ولی خپل ګور په داسې سخته ویره کښې ګکړ ګورم ؟ ...»

( حمید) چهدزهر څکلو پهواسطه دنیم بیهوشی په حالت کښې لاس اوپښې وهلی خپلی سترګی ئې پرانیتلی خوځلی ئې یخپل سرسره هغې کتابچې تهچه پهمیز باندې دڅراغ ترڅنګک پرانیتلی ایښې وه، اشاره وکوله اوورو ستهلهدې ځنې ئې په خورا زحمت او ډیر تکلیف سره چه خپل ګردی یاتی قواوی ئې یهوېلو ددې څو توریو باندې وښندل وئې ویل :

## داده دځان ساتنی اود وظیفی اودمینی نتیجه

وروسته له دې څخه ئې په سلګی وهلو باندې پیل کړی !.. له ستر ګوځنی ئې اوښکی بهولی !!.. لاس او پښې ئې آچولی ، و چ کلك واوید !!!...

د ( مجید ) ژړا او انګولا او شور ماشور ګرد ګوریه سر آخیستی اولږ څه وروسته همسایګان او پولیسان یه دې کور کښې ورتوئی شول ..

## خاتمه

دکابل پهورځپاڼو کښې دا خبر په ګرد ښار او په دوی دري ورځو کښې په ګرد عالم کښې خپور شو چه د ... ښار په هغو یې برخه په فلانی کوڅې او سرای کښې د وه تنه ( حبیبه ) او ( مجید ) نامی ... په سلسله سره انتحار کړیدی ئې په دهغوی جنازه دپولیس د ماموریت او دطبی ډاکټر له ... خه وروسته خښیږی له رسیدلی اطلاع سره برابر د دوی د انتحار سبب په یوه کتابچه کښې ... درداکه صورت سره لیکلی شوی دپولیسانو په لاس اوید لی دی چه سرله صبا به دپولیسانو په ځا کښې دیاورقی په دول چاپیږی .

څو ورځې وروسته له دی ځغه ددی چاپشوی خبر په تعقیب دا خبره هم چاپ او خپره شوله :

« په هغه کور کښې چه په فلانی ورځ دوه انتحار ونه پیښ شوی و ، او هغه زړه خوږ وونکی علت او سبب دپولیسانو په ځاه کښې ... ورځ چاپیږی یو بل ... هم استو ګنه ... له خه اوس هغه لیونۍ شویدی او ئن دبلدیې له خوا دار المجانین ته ورو سپار ه شو »

* * *

څو هفې وروسته به چه څوک دارالمجانین ته ورتلل ، نوهلته به ئې خوار ( مجید ) لیدو چه ډیر خفا او دلګیر په یوه کنج کښې ناست دی . او خپل دواړه لاسونه ئې تړلی لا ندی نیو لی تپ تپ هره خوا ګوری .

په ظاهر د کښې غیر له زور خپګانه بل هیڅ یوه دلیو نوب نښه دهغه په وجود کښې نه لیدله کیده . فقط کله کله به ئې ډاکټرانو ته ویل :

« زما ور ورهم یو لوی ډاکټر دی او په فلانی کوڅه کښې ئې ، شفاخانه ده ، چه زه ئې په میاشتی دوه زره روپۍ اراوړ کوم »

له دی ځغه زیاتی نوری خبری او اثری له هغه کمبخت ځخه نه اوریدلی کیدی او د نورو لیونیانو په منځ کښې دی تل معصوم او مظلوم او آرام او بې ضرره پریښیده .

« انتهی »

(دمؤلف یاد داشت :)

« ددی قصی اساسی موضوع دبانديني مطبوعاتو ځنی اقتباس شویدی »

د کابل ښار د ( ۱۳۱۷ ) کال د میاشتی د جدی ( ۲۱ ) شپه « کشکی »

[illegible] 37226

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*